د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو او تشریفاتو ریاست
د مطبوعاتو آمریت

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه او د هېوادوالو نظرونه

## 1401 لمریز کال

د سلواغې له لومړۍ د کب تر 29 مې



# لړلیک


| شمېره | موضوع | پاڼه |
|---|---|---|
| ۱ | د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه جوړه او پر بېلا بېلو موضوعاتو بحث وشو | ۱ |
| ۲ | د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه | ۱۰ |
| ۳ | په کابل ښار کې د سوالګرو راټولول | ۲۱ |
| ٤ | افغانستان کې له بهرنیو ځواکونو پاتې نظامي اډې پر ځانګړو اقتصادي زونونو بدلېږي | ۳۰ |
| ۵ | ۱٤۰۲ لمریز کال کې به د ۱۱ نیمګړو زېربنایي پروژو چارې پیل شي | ۳۹ |
| ٦ | په هېواد کې لسګونو بهرنیو لویو کمپنیو په بېلا بېلو سکتورونو کې شاوخوا ۱۰میلیارد ډالرو په ارزښت د پانګونې له پاره لېوالتیا ښودلې ده | ٤۸ |
| ۷ | د ملي تدارکاتو کمېسیون په غونډه کې د ۲ میلیاردو او ٤۸۰ میلیونو افغانیو په ارزښت پروژې منظورې شوې | ۵۷ |

# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه جوړه او پر بېلا بېلو موضوعاتو بحث وشو



## سریزه:

هغه څه چې یو هېواد له هره اړخه پیاوړی کوي، هغه تر ځمکه لاندې طبیعي زېرمې دي. په نړۍ کې به ډېر کم داسې هېوادونه وي چې د افغانستان په څېر ښکلې هوا، پرېمانه اوبه، ځنګلونه، پراخې دښتې او د دې ټولو ترڅنګ تر ځمکه لاندې طبیعي زېرمې ولري. افغانستان د طبیعي زېرمو اندازه هغې کچې ته رسېږي چې کولای شي، د نړۍ دا بې وزله هېواد پر یوه شتمن او بډایه هېواد بدل او د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په کتار کې یې ودروي. د افغانستان اسلامي امارت دې برخې ته پوره پاملرنه کړې او یو شمېر کانونه یې په قرارداد ورکړي او ځینې یې بیا داوطلبۍ ته وړاندې کړي چې په نږدې راتلونکي کې به په قرارداد ورکړل شي. دغه راز د بندونو جوړولو ته هم اسلامي امارت په خپلو کاري لومړیتوبونو کې ځای ورکړی دی. د اقتصادي کمېسیون له لوري د اوبو او انرژۍ وزارت ته سپارښتنه وشوه څو له قراردادي کمپنۍ سره د ارغستان بند جوړولو قرارداد د ملي تدارکاتو کمېسیون لخوا فسخه کړي او د یاد بند د سروې، ډیزاین او ساختماني چارو کارونه دې آزادې داوطلبۍ له لارې مخکې یوسي. همدارنګه په یاده ناسته کې د مالیې وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت، اقتصاد وزارت، چارو اداري لوی ریاست او د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت له استازیو څخه ګډې جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، تر څو د دولتي شرکتونو په اړه د ا.ا.ا د مشرتابه عالي مقام، ریاست الوزراء محترم مقام، کابینې او اقتصادي کمېسیون ټول حکمونه او پرېکړې په هر اړخیز ډول وڅېړي. یاده کمېټه دې د دولتي شرکتونو قانون، جوړښت، مدیریت، نظارت او نورو اړوندو اړخونو ته کتنه وکړي او دا دې جوته کړي چې د دولتي شرکتونو اوسنی جوړښت مؤثر دی او که نه. دغه کمېټه به په دې اړه هر اړخیزه طرحه برابره او اقتصادي کمېسیون ته به یې وړاندې کړي.

## د اقتصادي کمېسیون د غونډو موخه:

د دې کمېسیون په غونډو کې ټولې هغه پروژې، قراردادونه او نورې اړوندې اقتصادي چارې چې کولای شي د هېواد اقتصاد ته وده ورکړي او په پښو يې ودروي، تر بحث لاندې نیول کېږي او په اړه يې وړ پرېکړې کېږي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډې» خبر يې خپور کړی دی:

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:




**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډې راپور يې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یادې اعلامیې په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### آژانسونه




### تویټرپاڼې




### ویاندویان




### ورځپاڼې




### تلویزیونونه




### راډیوګانې



## په دولتي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه

### ويبپاڼې







## ۲- په خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلويزيونونه




### راډيوګانې




### ويبپاڼې




### اژانسونه



## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډې په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې موضوع ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د اقتصادي پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان زیاته ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*په لومړي سر کې کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ*

۱. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډې په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، ویاندویانو، ویبپاڼو، راډیوګانو، ورځپاڼو، اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۸۷۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۷۵۹ مثبت دي. ۹۹منفي نظرونه او ۱۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۷ ٪، منفي ۱۱ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. همدارنګه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډې په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیو ګانو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱٦٦ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۱۴ مثبت، ۴٦ منفي او ٦ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ٦۹ ٪، منفي نظرونه ۲۸ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي هغو په پرتله د خلکو مثبت نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۷ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ٦۹ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۲۸ او په دولتي کې دا سلنه ۱۱ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۸۷۳ مثبت نظرونه، ۱۴۵ منفي نظرونه او ۲۱ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۴ ٪ مثبت نظرونه، ۱۴ ٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو کچه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دا دی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره بریده د دولتي رسنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. اقتصادي کمېسیون د افغانستان اسلامي امارت په چوکاټ کې رامنځته شوی جوړښت دی، نو له دې امله یې خبرونه په دولتي رسنیو کې په زیاته کچه خپرېږي او هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي چې خلک د حکومت له لوري هر ګام کره څاري او په اړه یې خپل نظر وړاندې کوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- د داسې اقتصادي او بنیادي پروژو پیلول د افغانستان د پرمختګ یوازینۍ لاره ده، تر څمکې لاندې له طبیعي زېرمو څخه باید ګټه واخېستل شي.
- د اسلامی امارت د دې ډول پرېکړو هرکلی کوو، په دې شرط چې له دې لارې ترلاسه شویو پیسو څخه د اوبو بندونه جوړ او دغه شاړې ځمکې پرې ابادې او د دې بېچاره ملت په درد وخوري.
- که هر څوک د کان د استخراج ګټونکی شي باید بهر ته یې انتقال نه کړي او په قرارداد کې دا شرط پرې کېښودل شي چې را ایستل شوي سره زر به په کور دننه تصفیه کوي.
- له کانونو څخه ترلاسه کېدونکې پیسې دې په زېربنایي پروژو ولګول شي تر څو ګټه یې عامو افغانانو ته ورسیږي.
- داسې بنیادي کارونه دې لا ډېر شي، تر څو افغانان د نورو له احتیاجه خلاص شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسئلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی**، د هېوادوالو له نظرونو داسې معلومېږي چې هېوادوال د اقتصادي کمېسیون له پرېکړو هرکلی کوي. په نظرونو کې ویل شوي دي چې د کانونو څخه ترلاسه شوې پیسې دې په بنسټیزو پروژو لکه د اوبو بندونو، کانالونو او داسې نورو باندې ولګول شي، څو د هېواد پراخې دښتې خړوبې او سمسورې شي. د افغانستان اسلامي امارت هم په همدې هڅه کې دی چې د کانونو له استخراج څخه ملي عواید لوړ او له دې لارې بیا هغه پروژې چې کولای شي په هېواد کې اقتصادي وده رامنځته کړي، عملي کړي، چې مورږ یې بېلګې عملاً په سترګو وینو. د قوش تېپې کانال، د کمال خان بند د کانالونو د جوړولو چارې، د لویو لارو بیارغونه، د کجکې بند د دویم فاز پرانیسته، د ریل پټلۍ لارې جوړول او بیا رغونه، د شاه او عروس بند په څېر د نورو بندونو د پاټې چارو بشپړول یې د مثال په توګه یادولی شو.

✍ **دویم:** د خلکو په نظرونو کې یو بل څه چې د پام وړ دي هغه دادي چې دوی بنسټیزې اقتصادي پروژې د هېواد د پرمختګ یوازینۍ لار بولي او وایي چې له دې لارې هېواد کولای شي د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسېږي. په رښتیا هم هر هېواد چې بنسټیزې اقتصادي پروژې عملي کړې دي، پرمختګ یې کړی دی، ځکه اقتصادي پروژې کولای شي پر ټولو هغو سکټورونو مثبته اغېزه وکړي چې هغه د اقتصادي ودې په برخه کې کار کوي. د افغانستان اسلامي امارت همدې ټکي ته په پاملرنې ژمن دی او هڅه کوي چې بنسټیزې اقتصادي پروژې عملي کړي او پر مټ یې د هېواد اقتصاد پیاوړی او افغانستان د نورو له احتیاجه او پر ځان یې بسیا کړي.

✍ **دریېم:** دلته خلکو ځینې وړاندیزونه هم کړي دي چې باید له پامه ونه غورځول شي. دوی وايي چې د کانونو د استخراج ګټوونکي باید کاني توکي بهر ته ونه لېږدوي او دا شرط پرې کېښودل شي چې د کاني موادو پروسس به په هېواد کې دننه ترسره کوي. د افغانستان اسلامي امارت د یوه مسوول حکومت په توګه باید ټول قراردادونه له نړیوالو معیارونو سره سم ترسره کړي. تر کومه ځایه چې معلومات شته اسلامي امارت ټول هغه کانونه چې تر دې مهاله یې په قرارداد ورکړي دي، په ټولو کې منل شوي معیارونه په پام کې نیول شوي دي او هڅه شوې چې هر قرارداد د هېواد په ګټه ترسره کړي. په ټولو قراردادونو کې یې ټول هغه موارد ځای پر ځای کړي دي چې د قرارداد له پاره اړین دي. د سمتي د سرو زرو کان په قرارداد کې به هم دې ټکي ته ضرور پام کیږي.

✍ **څلورم:** د خلکو په نظرونو او وړاندیزونو کې ځینو نورو مسایلو ته هم اشاره شوې ده. په نظرونو کې راغلي دي چې دا پیسې دې په سترو پروژو ولګول شي لکه د برېښنا بندونه او داسې نور. دغه راز ویل شوي دا ډول بنسټیز کارونه دې زیات شي، ترڅو افغانان د نورو له احتیاجه خلاص شي. دا یو واقعیت دی چې ترلاسه شوي عواید باید پر سترو پروژو او هغو پروژو چې اقتصادي وده ورسره رامنځته کېږي، ولګول شي. د افغانستان اسلامي امارت له بیا واکمنېدو بیا تر دې مهاله په همدې روال خپلو چارو ته دوام ورکړی دی. کوم عواید چې ترلاسه کېږي د هغو له پاره یې ځینې پروژې په عملي ډول پیل کړې او د ځینو له پاره یې پلانونه او طرحې چمتو کړې دي چې په راتلونکي کې به یې عملي کړي. د دې بنسټیزو پروژو څخه د ریل پټلۍ په برخه کې د سترو پروژو د پیل له پاره د پلان جوړول او دغه راز د اوبو او انرژۍ په برخه کې د سترو پروژو د طرحو پر چمتو کولو باندې کار روان دی چې له بشپړېدو وروسته به یې د پراختیایي بودیجې له لارې تمویل شي د دغو پروژو پر پرمټ به له یوه لوري هېواد له ګاونډیو، سیمې هېوادونو او ان نړۍ سره ونښلوي او له بل لوري به د انرژۍ په برخه کې افغانستان پر ځان بسیا او د نورو له احتیاجه خلاص کړي.

د اسلامي امارت مشرتابه تل په خپلو خبرو کې ټینګار کړی چې دوی د افغانستان مظلوم ملت د لاسنیوي له پاره خپلې هلې ځلې کوي. دوی په خپلو خبرو کې ویلي چې باید په خپلو هڅو سره خپل ملت له احتیاجه خلاص کړي او افغانستان په هره برخه کې خودکفا کړي.

## پایله

هغه څه چې یو هېواد له هره اړخه پیاوړی کوي، هغه تر ځمکه لاندې طبیعي زېرمې دي. په نړۍ کې به ډېر کم داسې هېوادونه وي چې د افغانستان په څېر تر ځمکه لاندې طبیعي زېرمې ولري. افغانستان د طبیعي زېرمو اندازه هغې کچې ته رسېږي چې کولای شي، د نړۍ دا بې وزله هېواد پر یوه شتمن او بډایه هېواد بدل او د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په کتار کې یې ودروي. اسلامي امارت دې برخې ته پوره پاملرنه کړې او د یو شمېر کانونو قراردادونه یې کړي او ځینې یې بیا داوطلبۍ ته وړاندې کړي دي. دغه راز د بندونو جوړولو ته هم د افغانستان اسلامي امارت په خپلو کاري لومړیتوبونو کې ځای ورکړی دی. د اقتصادي کمېسیون په غونډو کې ټولې هغه اقتصادي پروژې چې د هېواد د اقتصادي ودې لامل ګرځي پرې بحث کېږي او د عملي کېدو له پاره یې هلې ځلې کېږي. سره له دې چې پر افغانستان د نړیوالې ټولنې له لوري اقتصادي بندیزونه دي او ملي شتمني یې کنګل شوې ده، د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیاست په غوره کولو او تر ځمکې لاندې طبیعي زېرمو په ګډون یې ټولې هغه چارې پیل کړې دي چې کولای شي د هېواد اقتصاد په پښو ودروي. د افغانستان اسلامي امارت دغه ډول کړنې تل د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ شوې دي او ملاتړ یې شوی دی. دا ځکه چې خلک اوس پر دې باور دي چې نه بهرنۍ مرستې او نه هم بهرنیان کولای شي، هېواد د پرمختګ په لور بوځي، بلکې دوی پر دې باور دي چې باید له خپلو تر ځمکې لاندې شتمنۍ او نورو هغو سرچینو څخه ګټه پورته شي، چې تر دې مهاله تري چا ګټه نه ده اخیستې. د افغانستان اسلامي امارت د همدې باور پر اساس دې برخې ته خپله پاملرنه واړوله او د هېواد په کچه یې کوچنې، متوسط او ځینې ستر کانونه په قرارداد ورکړل او له عوایدو یې د هېواد په بیارغونه او پرمختګ کې ګټه پورته کړه. د افغانستان اسلامي امارت په دې برخه کې تر ډېره بریده بریالی دی او دا کار یې په پراخه کچه د هېوادوالو له تاوده هرکلي سره مخ شوی دی.

# د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه



**سریزه:**

نړیوال بانک د ۲۰۲۳م کال د جنورۍ په میاشت کې د افغانستان د اقتصادي وضعیت د پرمختګ په اړه راپور خپور کړ. په دې راپور کې هغو پرمختګونو ته اشاره شوې وه چې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو را وروسته ترسره شوي دي. راپور کې د خوراکي او نورو توکو بیو ټیټوالي، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت ساتلو، د بانکي سیستم منظمېدلو، دولتي کارکوونکو ته پر وخت د تنخوا ورکولو، د ملي عوایدو او صادراتو په کچه کې د بې ساري زیاتوالي راتللو او د روغتیا په سکټور کې شته ستونزو تر ډېره بریده د حل لارو پیدا کېدو په څېر پرمختګونو ته اشاره شوې ده. په راپور کې ویل شوي چې د خوراکي او نورو توکو له زیاتوالي سره د انفلاسیون کچه راکمه شوې ده. دغه راز د بهرنیو اسعارو پر وړاندې افغانۍ خپل ارزښت ساتلی دی. د راپور له مخې افغانۍ د ځینو بهرنیو اسعارو پر وړاندې ډېره کمه سلنه ټیټه شوې، خو په مقابل کې یې بیا د ځینو اسعارو پر وړاندې لوړه شوې ده. ملکي مامورینو ته معاشونه هغه که نارینه دي او که ښځینه په خپل وخت ورکول شوي دي. د ملي عوایدو په اړه په راپور کې راغلي چې د ۲۰۲۲م کال د ډسمبر تر ۲۱مې نیټې پورې ملي عواید ۹، ۱۳۵ میلیارده افغانیو (۱٫۵٤ میلیارد ډالرو) ته رسېدلي دي. د ۲۰۲۲ کال له جنورۍ څخه تر نومبر پورې افغانستان د ۱٫۷ میلیارد ډالرو په ارزښت توکي صادر کړي چې دا ارقام په ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱ کلونو کې ۰.۹ میلیارد او ۰.۸ میلیارد ډالر وو. همدارنګه په روغتیایي او په ځانګړي ډول د ماشومانو د زېږون په برخه کې ښه خدمات وړاندې شوي او په روغتیایي مرکزونو کې ۹۸سلنه ښځینه کارکوونکي پر کارونو بوختې دي.

د نړيـوال بانـک لـه لـوري د افغانسـتان اقتصـادي وضعيـت پـه اړه خپـاره شـوي راپور پـه تړاو د افغانسـتان اسـلامي امارت د رياسـت الـوزراء اقتصـادي معاونيـت اعلاميـه خپـره کـړه او د يـاد بانـک د خپاره شـوي راپـور د ټولـو مثبتو او پـر واقعيتونو ولاړو ټکـو هرکلـی يـې وکـړ. پـه اعلاميـه کې راغلي چې د افغانسـتان اسـلامي امـارت باور لري، کـه چېرې د افغانسـتان پر بانکـي سـکټور شـته بنديزونـه لـرې او د افغانانو کنګل شـوې شـتمني ازاده شي، د هېواد اقتصادي وضعيـت به له دې هم د ښـه والي او اسـتحکام پـه لـور ګړنـدي ګامونـه واخـلي او بار بـه يې د نړيوالـې ټولنې له اوږو سـپک شي.

دغـه راز پـه اعلاميـه کـې لـه نړيوالـو سـازمانونو غوښـتنه شـوې چـې د افغانسـتان په اړه نـړۍ ته هغـه پرمختګونه يـاد کړي چـې پـه افغانسـتان کـې تـرسره شـوي، پـه ځانګړې ډول اقتصادي برخـه کې، تر څو نـړۍ د افغانسـتان لـه حقيقي حالت ځخه خبـره شي. پـه اعلاميـه کـې پـر ټولـو نړيوالـو سـازمونونو او مرسـتندويه ادارو غـږ شـوی چـې لـه افغانسـتان سره د پراختيايـي پـروژو د تمويـل پـه برخـه کـې همـکاري وکـړي چـې لـه مخـې به يـې د بـې کارۍ کچه راټيټـه او پـر اقتصادي وضعيـت بـه مثبـت اغيـز وکـړي. پـه اعلاميـه کې لـه نړيـوال بانک ځخه هم غوښـتنه شـوې چې يـاد بانک دې هغـه پروژې چې د اسـلامي امـارت لـه واکمنېـدو سره يـې چـارې نيمګـړې پاتـې دي، بېرته پيـل او بشـپړې کړي.

## موخه:

نړيـوال سـازمانونه ورو ورو پـر هغـو پرمختګونـو چـې د اسـلامي امـارت پـه بيـا ځلـي واکمنېـدو سره رامنځتـه شـوي اعتراف کـوي او نـور نـه شي کـولای سـترګې پټـې کړي. اسـلامي امارت هـم د نړيوالو بنسـټونو پـر واقعيتونـو ولاړو راپورونو هرکلی کـوي او وايـي چـې نړيـوال دې د افغانسـتان واقعـي انځـور نـړۍ ته وړانـدې کړي.

**په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د افغانستان اقتصادي وضعيت په اړه د نړيوال بانک وروستي راپور په تړاو د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت اعلاميه» خبر يې خپور کړی دی**

**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:




**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو یې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیې خبر خپور کړی دی.

## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یادې اعلامیې په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

#### تلویزیونونه




#### راډیوګانې




#### ورځپاڼې




#### آژانسونه



### ویاندویان




### ټویټرپاڼې







په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه

## ۲- خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلويزيونونه




### راډيوګانې



### ورځپاڼې




### آژانسونه




### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




### خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## «د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه» په تړاو په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنې او ارزونې موخه د خلکو نظرونو ته پاملرنه ده. دا ارزونه خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت اقتصادي پریکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو دا به راته جوته شي چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو ټوېټر بیا د رسمي- حکومتي مسوولینو او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالانو له لوري زیات کارول کېږي. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. ولې د رسنیو، دولتي او نا دولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*په لومړي سر کې کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ*

۱. «د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه» تلویزیونونو، راډیوګانو، اژانسونو، ټوېټر پاڼو، ویاندویانو او ورځپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۸۰۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۷۱۶ مثبت دي. ۷۴منفي نظرونه او ۱۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۹ ٪، منفي ۹ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. «د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه» د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبت، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۰۶۹ دی. د دې نظرونو له جملې ۷۸۴ مثبت، ۲۵۴ منفي او ۳۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۳ ٪، منفي نظرونه ۲۴ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه له خصوصي هغو لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۹ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۳ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو کچه له دولتي هغو زیاته ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۵۰۰مثبت نظرونه، ۳۲۸ منفي نظرونه او ۴۲ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۰ ٪ مثبت نظرونه، ۱۸ ٪ منفي نظرونه او ۲٪ سالم وړاندیزونه دي.

## د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنې د کچې لوړېدو لامل څه دی؟

یو لامل یې دا دی هغه خبرونه چې د هېواد ګټې پکې نغښتې او مثبت وي په زیاته کچه د رسنیو او په دې رسنیو پورې اړوندو ټولنیزو شبکو له لوري خپرېږي او هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه هم زیات وي. هغه خبرونه چې ملي ګټې رانغاړي، خلک یې په اړه نظر ورکوي او تر ډېره بریده دا نظرونه بیا مثبت وي. له دې څخه جوتېږي چې خلک د حکومت له لوري هر ګام چې د هېواد او هېوادوالو په ګټه وي او د افغانستان د پرمختګ لامل ګرځي، ستایي او په مثبت نظر ورته ګوري.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- افغانان له نړۍ خیرات نه غواړي، بلکې نړیوال دې بندیزونه لرې کړي. د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هر قدم د هېواد د آبادۍ او سوکالۍ سبب شوی. محترم ملا صاحب د ټول افغان ولس په زړونو کې ځای لري. د افغانستان اقتصادي پرمختګ او پیاوړتیا مسوولیت د ملا صاحب په غاړه دی او ډېر ژر به دا هېواد د نورو مترقي هېوادونو په کتار کې ودرېږي.

- د نړیوال بانک ارزونه پر ځای ده. په واقعیت کې که د چا پلوي ونه کړو او ټول هڅه وکړو، نو له شک پرته چې زموږ هېواد اقتصاد به وده وکړي، ځکه اوسمهال غلا، بډې او فساد نشته، موږ له هېواده بهر په لومړي ځل د خپل هېواد محصولات وینو لکه د افغانستان وچه میوه. باید ووایم چې څه موده وړاندې مې په هالنډ هېواد کې د جلال اباد ساخت دیګ بخار واخیست او په واقعیت کې ښه دیګ او لوړ کیفیت لري.

- نړیوال بانک اول باید د غریبو افغانانو شتمني ازاده کړي. مونږ د ملت په حیث د خپل دولت هر پرمختګ چې په هره برخه کې وي ستایو، ملاتړ یې کوو، د خپل نظام او خلکو په ګټه یې بولو. دا چې د افغانستان اقتصادي وده د نړیوالو له لوري منل شوې ده دا یې پر ځای اعتراف دی، په رښتیا هم چې اسلامي امارت د هېواد د پرمختګ له پاره کار کړی دی.

- د اسلامی امارت لاسته راوړنې د قدر وړ دي لکه قوش تېپې کانال، لویو لارو بیارغونه، د کانونو مسلکي استخراج او پروسس، کجکي بند پرانیسته، سوالګرو راټولول، هغو ته معاش ورکول او همدارنګه په نشه يي توکو د روږدو کسانو راټولول او د هغوی درملنه ستري لاسته راوړنې دي.

- په تیره اداره کې به میلیاردونه ډالر راتلل، خو بیا به هم مامورین وږي وو او د عسکرو د البسې او اعاشې نه يې هم غلا ګانې کولې او نه یې معاشونه په وخت ورکول. ښه خبره دا ده چې حکومتولي نوره هم شفافه شي د خلکو مشکلاتو ته نظر وشي .

- نړیوال بانک دې په افغانستان کې نیمګړې پروژې بېرته پیل کړي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسئلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی:** کله چې د خلکو نظرونه لولو، نو د نړیوال بانک د خپاره شوي راپور هرکلی شوی دی. په نظرونو کې تر سترګو کېږي چې هېوادوال د هېواد پرمختګ ته هیله من شوي دي. د دوی په نظر اسلامي امارت د یوه مسؤل حکومت په توګه د هېواد پرمختګ له پاره کار کوي. دا پر ځای خبره ده چې د اسلامي امارت په رامنځته کېدو سره، سره له دې چې د افغانانو شتمني د بهرنیانو له لوري کنګل شوې او له امله یې زیاتې ستونزې رامنځته شوې وې، خو اسلامي امارت پرته له دې چې دا ستونزې جدي وګڼي د خپلو کورنیو عوایدو پر مټ وتوانېد چې لویدلی اقتصاد راپورته، بانکي سیستم له پاشلو وژغوري او د افغانۍ ثبات د بهرنیو اسعارو پر وړاندې ثابت وساتي او فساد ختم کړي. افغاني محصولاتو ته یې د دې زمینه برابره کړه چې له هېواده بهر صادر شي، له همدې سره د صادراتو کچه لوړه شوه او چې څومره د صادراتو کچه لوړېږي په هماغه کچه سوداګرې پراختیا مومي او د عوایدو د لوړېدو ترڅنګ اقتصادي پرمختګ هم رامنځته کېږي. اوس دا دی د اقتصادي وضعیت د ښه کېدو په اړه نه یوازې دا چې حکومت یې ادعا کوي، بلکې نړیوال معتبر بنسټونه لکه نړیوال بانک هم پر دې اعتراف کړی دی چې د افغانستان اقتصادي حالت تر پخوا ډېر ښه شوی دی.

✍ **دویم:** د خلکو په نظرونو کې د یو لړ ستونزو یادونه هم شوې ده لکه د نجونو پر مخ د ښوونځیو او پوهنتونونو د تړلو، برېښنا د کمښت او داسې نور. خلکو له اسلامي امارت څخه غوښتي چې دغه ستونزې حل کړي. اسلامي امارت مسوولینو تل په خپلو خبرو کې ویلي چې د هېوادوالو د ستونزو هواری او هغوی ته د اسانتیاوو رامنځته کول یې په کاري لومړیتوبونو کې دي. یادې ستونزې چې ځینې د تخنیکي مسایلو له امله رامنځته شوې دي او پاتې نورې یې لنډمهاله دي، مسوولینو یې د حل په اړه ملت ته ډاډ ورکړی دی. د نجونو ښوونځیو او پوهنتونونو د تړل کېدو په اړه ویل شوي چې اسلامي امارت د ښوونې او روزنې پراختیا او پرمختګ ته ژمن دی. ښوونځیو او پوهنتونونو ته د نجونو ورتګ له پاره په میکانیزم کار روان دی چې له بشپړېدو وروسته به له شریعت سره سم نجونې ښوونځیو او پوهنتونونو ستنې شي. د برېښنا د کمښت ستونزه شته او لامل یې دا دی چې د افغانستان خپله برېښنا دومره نه ده چې د ټول هېواد له پاره بسنه وکړي او کومه برېښنا چې د منځنۍ اسیا له هېوادونو افغانستان ته راغلې ده او کله ناکله پکې ستونزې راولاړېږي، هغه تخنیکي ستونزې دي. اسلامي امارت هڅه دا ده چې له خپلو پریمانه اوبو څخه د برېښنا د تولید په برخه کې ګټه پورته کړي او له دې پلوه هېواد پر ځان بسیا کړي. د دې ادعا ثبوت له پاره کولای شو د کجکي د دویم فاز د چارو بشپړېدل او سروبي ۲ برېښنا بند د جوړېدو له پاره هلې ځلې یادې کړو. اسلامي امارت هڅه کوي او کړې یې ده چې د افغانستان پریمانه اوبه مهار او په ښه ډول مدیریت کړي چې له مخې به یې هم د برېښنا ستونزه حل او هم به د هېواد شاړې دښتې په کرنیزو ځمکو بدلې شي.

✍ **دریم:** د خلکو په وړاندیزونو کې چې یو څه ډېر تر سترګو کېږي، هغه دا دي چې نړیوال بانک دې په افغانستان خپلې نیمګړې پروژې بشپړې کړي. دوی وایي، که د نړیوال بانک له لوري پر نیمګړو پروژو له سره کار پیل شي، نو له یوه لوري به خلکو ته د کار زمینه برابره شي او له بل لوري به دا د افغانستان له خلکو سره یوه بشردوستانه همکاري وي. اسلامي امارت هم له ټولو هغو هېوادونو او نړیوالو بنسټونو څخه غوښتې چې په افغانستان کې دې خپلې نیمګړې پروژې بشپړې کړي. د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک وروستي راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه کې دې ټکي ته اشاره شوې ده. په اعلامیه کې له نړیوال بانک څخه غوښتنه شوې چې د افغانستان په اړه د واقعیتونو ترڅنګ دې هغه پروژې چې د دې سازمان له لوري تمویلېدې خو د ۲۰۲۱ له بیا ځلې واکمنېدو وروسته یې کارونه نیمګړي پاتې دي، بېرته پیل او چارې دې بشپړې کړي. په اعلامیه کې د دې ترڅنګ له نړیوالو سازمانونو او مرستندویه ادارو څخه هم غوښتل شوي چې له افغانستان سره دې د پراختیایي پروژو د تمویل په برخه کې همکاري وکړي. اسلامي امارت تل د هغو مرستندویه سازمانونو او ادارو هرکلی کړی چې له کومې موخې پرته د افغانستان د پرمختګ او ابادۍ په برخه کې کار کوي.

✍ **څلورم:** د هېوادوالو په نظرونو کې د مالیې مسئلې ته ګوته نیول شوې ده. دوی وایي چې مالیې لوړې دي او خلک یې د ورکړې توان نه لري. دلته د یوه ټکي یادونه باید وشي او هغه دا چې مالیې د کورنیو عوایدو ستره برخه جوړوي او راغونډل یې اړین دي، ځکه که مالیه راټوله نه شي، نو عواید هم نه لوړېږي او چې د عوایدو کچه ټیټه وي، بیا نو د خدماتو وړاندې کول هم ستونزمن وي. اسلامي امارت د همدې موخې په پار د مالیې راغونډول پیل کړي دي.په افغانستان کې په تېرو شلو کلونو کې د فاسدې او بې کفایته ادارې له وجې هېڅ وخت هم مالیه په شفاف ډول راټوله نشوه. اوس چې په افغانستان کې مرکزي او خپلواک حکومت شته، باید هغه کارونه ترسره کړي چې له مخې یې عواید لوړ او په مقابل کې یې خلکو ته خدمات وړاندې شي. دا چې اسلامي امارت د مالیو په کچه کې کموالی راوست او له ۵. ۱ سلنې څخه ۵. ۰ سلنې ته راټیټه کړه، دا کار د خلکو اقتصادي حالت او د هغوی د کاروبار د پرمختګ په پار شوی دی.

✍ **پنځم:** د خلکو په نظرونو کې د اسلامي امارت لاسته راوړنې هم یادې شوې دي، لکه قوش تېپې کانال، لویو لارو بیارغونه، د کانونو په مسلکي ډول استخراج او پروسس، کجکي بند دویم فاز پرانیسته، د سوالګرو را ټولول او هغو ته معاش ورکول او همدارنګه په نشه يي توکو د روږدو کسانو راغونډول او د هغوی درملنه. دوی وایي چې دا د اسلامي امارت سترې لاسته راوړنې او د هېوادوالو له پاره خدمت دی. دغه راز د خلکو په نظرونو کې د کابل د تیرې ادارې نیمګړتیاوو ته اشاره شوې ده. خلک وایي، په تیره اداره کې مرسته شوې پیسې ټولې حیف او میل کېدې او ملت ته یې ګټه نه رسېده. دوی له اسلامي امارت څخه غوښتي چې حکومتولي دې نور هم شفافه کړي. د خلکو نظرونه او غوښتنې د قدر وړ دي او اسلامي امارت ورته په درنه سترګه ګوري. اسلامي امارت هڅه کوي چې دې ته ورته نورې هغه چارې هم ترسره کړي چې له امله یې هم د خلکو لاسنیوی وشي، هم د هغوی اقتصادي ستونزې هوارې او هم هېواد په بېلا بېلو برخو کې د پرمختګ جوګه شي. دا ربنتیا خبره ده چې د اسلامي امارت په بیا ځلي واکمنېدو سره ډېری

هغه سترې او ملي پروژې چې د افغانستان په پرمختګ کې رغنده رول لري، پیل شوې دي او هڅه دا ده چې له دې لارې د هېواد زیربناوې په پښو ودرېږي. د دې ترڅنګ اسلامي امارت د اړمنو هېوادوالو لاسنیوی کړی دی چې ښه بېلګه یې همدا د سوالګرو او په نشه یي توکو د روږدو کسانو راټولول او له هغوی سره مرسته او د دوی درملنه ده. دا چې خلک وایي، په حکومتولۍ کې دې نور هم شفافیت رامنځته شي، نو باید ووایو چې د شفافیت نړیوال سازمان له لوري د اسیایي هېوادونو له فساد سره د مبارزې په اړه په وروستیو ترسره شویو څېړنو کې دا جوته شوې چې اسلامي امارت له فساد سره د مبارزې په برخه کې اغېزناک کار کړی دی. د همدې سازمان په راپور کې ویل شوي چې افغانستان اوسمهال له فساد سره د مبارزې په برخه کې ۲۴ امتیازونه خپل کړي او له ۱۷۶یم ځای څخه ۱۵۰ام ځای ته راښکته شوی دی. بلکې کوم راپور چې د شفافیت نړیوال سازمان له لوري خپور شوی دی پر حقایقو ولاړ راپور نه دی که چېرې دوی له نېږدې او شته حقایقو ته په کتو راپور ترتیب کړی وی، اسلامي امارت به په دې برخه کې تر ټولو لوړ امتیازونه ترلاسه کړي وی او اسلامي امارت پر دې ټینګار کوي چې دوی د عیني واقعیتونو ته په کتو خپلو راپورونه ترتیب او خپاره کړي. اسلامي امارت له فساد سره د مبارزې په برخه کې جدي دی او په دې برخه کې یې کوټلي ګامونه اوچت کړي دي.

## پایله

د اسلامي امارت په بیا ځلي واکمنېدو سره په افغانستان کې یو پیاوړی مرکزي حکومت رامنځته شوی دی. د هر حکومت دنده دا ده چې د هېواد پرمختګ تضمین کړي. اسلامي امارت داسې مهال واک ته ورسېد چې د افغانستان اقتصاد له ننګونو سره مخ و. د دې ترڅنګ چې اقتصادي حالت مخ پر ځوړ و، نړیوالې ټولنې د دې پر ځای چې افغانستان سره مرسته وکړي، برعکس پر افغانستان یې بندیزونه ولګول. تر ټولو مهمه د افغانانو هغه شتمني وه چې په امریکا کې کنګل شوه. خو سره له دې هم اسلامي امارت وتوانېد چې په افغانستان کې اقتصادي پرمختګ ته لار هواره کړي او تر ډېره حده په دې برخه کې بریالی شو. په لومړیو کې نړیوالو داسې انګیرله چې ګني اسلامي امارت به د دې وړتیا پیدا نه کړي چې له داسې یو کړکیچن حالته ځان وباسي او دوی خو لا دا هم ویل چې په اسلامي امارت کې اقتصاد پوهان، حقوق پوهان او داسې نور چې وکولای شي اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره کړي نشته او زیاتره مسلکي وګړي له هېواده وتلي دي. خو سره له دې هم اسلامي امارت پر دې بریالی شو چې اقتصاد ورغوي، بانکي سیستم له پاشلو وژغوري، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ثبات وساتي چې دا ټول د هېواد پرمختګ لامل ګرځي. تر یو وخت پورې د اسلامي امارت له لوري پر ترسره شویو کړنو سترګې پټېدلې، خو نړیوال بانک د افغانستان اقتصادي حالت د پرمختګ په اړه وروستي راپور دا په ډاګه کړه چې د افغانستان پر اقتصادي پرمختګ نور نړیوال بنسټونه هم نه شي کولای سترګې پټې کړي. نړیوال بانک په خپل راپور کې ویلي چې د تیرو کلونو په پرتله د افغانستان اقتصاد ښه شوی دی. د دې ترڅنګ د روڼتیا نړیوال سازمان له لوري په ۲۰۲۲ م کال کې د فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د هېوادونو د پرمختګونو په اړه راپور خپور شو. په دې راپور کې چې د اسیایي هېوادونو په اړه و، افغانستان له ۱۷۴یم ځای څخه ۱۵۰ ام ځای ته راښکته شو او په دې برخه کې یې ۲۴ امتیازونه خپل کړل. له دې څخه په ډاګه کېږي چې افغانستان د اسلامي امارت په موجودیت کې د پرمختګ په لور ګامونه پورته کوي او که چارې همداسې روانې وي، نو افغانستان به ډېر ژر د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودرېږي.

# په کابل ښار کې د سوالګرو راټولول



**سریزه:**

په افغانستان او بیا په ځانګړي ډول په لویو ښارونو کې یوه ستره ستونزه د سوالګرو ده. په دې ښارونو کې یو زیات شمېر خلک دي چې په سوال یې لاس پورې کړی دی. کېدای شي، ځینې یې مستحق او د مجبورۍ ورځې یې دې کار ته لاس اچولی وي، خو زیات شمېر یې بیا حرفوي دي او دا یې د ځان له پاره کاروبار ګرځولی دی. د سوالګرو راټولولو کمېټې د موندنو پر اساس په کابل ښار کې ډېر سوالګر حرفوي دي او د ناچارۍ له امله ګدایي نه کوي، بلکې له دغه کار څخه د یوه مسلک په توګه د عوایدو پیدا کولو لپاره ګټه اخلي. د دې ستونزې د حل له پاره د عالیقدر امیرالمومنین شیخ هبةالله اخوندزاده حفظه‌الله له فرمان سره سم د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د سوالګرو راټولولو کمېټه جوړه او تر دې دمه یې د کابل ښار له بېلا بېلو سیمو په زرګونو سوالګر راټول کړي دي. دا لړۍ لا هم روانه ده. د سوالګرو راټولولو کمېټې د روان ۱۴۰۱ لمریز کال د کب میاشتې تر ۲مې نېټې د کابل ښار له بېلابېلو سیمو ۲۸۶۱۲ سوالګر راټول کړي دي. تر ارزونې وروسته د راټولو شویو سوالګرو له جملې ۱۱۲۵۳ مستحق او ۱۷۲۸۹ حرفوي سوالګر پېژندل شوي دي. په دې سوالګرو کې ۷۰بې سرپرسته ماشومان دي. بې سرپرسته سوالګر ماشومان له بایومیټریک وروسته د کار او ټولنیزو چارو وزارت له لوري روزنتون ته داخلېږي او هلته ورته پر اعاشې سربېره د زده کړو او تعلیم زمینه برابرېږي. له مستحقو سوالګرو سره بیا د افغانستان اسلامي امارت له لوري دوامداره نغده مرسته کېږي. د کابل ښار خلک او راټول شوي سوالګر د دغه بهیر له پیلېدو خوښي څرګندوي او وایي چې په دغه کار سره به د خلکو او سوالګرو ډېرې ستونزې حل شي او ښه ده چې د حکومت له لوري د دغه نامناسب کار مخنیوی وشي.

## له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولولو کمېټې موخه:

لـه کابـل ښـار څخـه د سـوالګرو راټولـولـو کمېټـې اصلي موخه د سـوالګرو سـتري معضلې له منځـه وړل او کوم کسـان چې د ناچـاري ورځـې يـې دې کار تـه لاس غځولی، د هغوی لاسـنيوی دی.

**په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولولو کمېټې» خبر يې خپور کړی دی**

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




### د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:




**يادونـه:** پـه دغـه ګـراف کـې پـه هغـو دولتـي او خصـوصي رسـنيو کـې د خلکـو نظرونـو سـلنه ښـودل کېـږي چـې د سـوالګرو راټولـولـو کمېټې راپـور يې په ويډيويـي، غږيـزه او چاپـي بڼـه خپـور کـړی دی.

# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ورځپاڼې




### ویب پاڼې




### اژانسونه




### ویاندویان



## ټویټرپاڼې




## په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ورځپاڼې




### اژانسونه



## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د سوالګرو راټولولو کمېټې خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسئلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان زیاته ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د سوالگرو راټولولو کمېټې خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، ویاندویانو، ویبپاڼو، راډیوگانو، ورځپاڼو، اژانسونو او ټوېټرپاڼو په گډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۸۲ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۴۵ مثبت دي. ۲۸منفي نظرونه او ۹ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۷ ٪، منفي ۱۰ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

۲. همدارنگه د سوالگرو راټولولو کمېټې خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په گډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۳۲٦ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۲۱ مثبت، ۷۸ منفي او ۲۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ٦۸ ٪، منفي نظرونه ۲۴ ٪ او سالم وړاندیزونه ۸ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي هغو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۷ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ٦۸ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۲۴ او په دولتي کې دا سلنه ۱۰ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۴٦٦ مثبت نظرونه، ۱۰٦ منفي نظرونه او ۳٦ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۷ ٪ مثبت نظرونه، ۱۷ ٪ منفي نظرونه او ٦٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنې کچه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دا دی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره بریده د دولتي رسنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. د سوالگرو راټولولو کمېټه هم د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت تر چتر لاندې رامنځته شوې ده، نو له دې امله یې خبرونه په دولتي رسنیو کې په زیاته کچه خپرېږي. د دې خبر په اړه که څه هم په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، خو په خصوصي رسنیو کې هم خلکو نظرونه ورکړي دي چې سلنه یې ٦۸ ته رسېږي. هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي چې خلک د حکومت له لوري پورته شوی هر گام کره څاري او په اړه یې خپل نظر وړاندې کوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده چې دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر سلګونو ته رسېږي.

- د اسلامي امارت له خوا د سوالګرو او په نشه یي توکو د روږدو کسانو راغونډول او دې ټولو ته یو منظم پلان نیول او عادي ژوند ته یې راګرځول د هېواد او ټولنې د پرمختګ او هوساینې لپاره مهم ګام او د ستاینې وړ کار دی.
- دا یو مثبت او ارزښتناک ګام دی، الله پاک دې هغو کسانو ته چې دا کار یې پیل کړی، اجر ورکړي، هیله من یم چې اړو خلکو ته د ژوند اسانتیاوې رامنځته شي.
- که پر حق سترګې پټې نه کړو، د جمهوریت پر مهال دا کار سره له دې چې په میلیاردونو ډالر راتلل، ونه شو، ځکه چې هغه مهال ټوله اداره په فساد کې ډوبه وه.
- د نورو برخو ترڅنګ چې حکومت ورته توجه کړې ده، هیله ده چې د بنسټیزو پروژو د پیل لپاره هڅې ګړندۍ کړي، که چېرې دولتي فابریکې فعالې شي، نو زرګونو کسانو ته به پکې د کار زمینه برابره او له دې سره به هېواد د خودکفا په لور چټک ګامونه واخلي.
- لویو ښارونو ته هم توجه وکړئ لکه مزارشریف، خوست او داسې نور ښارونه، په دې ښارونو کې هم د سوالګرو شمېر زیات شوی دی.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی:** د خلکو په نظرونو کې د اسلامي امارت دا ګام بې ساری بلل شوی او ویل شوي د سوالګرو پر نشه یي توکو د روږدو کسانو راغونډول او عادي ژوند ته یې ستنول، د ټولنې د هغه قشر لاسنیوی دی چې له دې وړاندې ورته چا پام نه دی کړی. په رښتیا هم چې د اسلامي امارت دا ګام بې ساری ځکه دی چې له دې وړاندې نه سوالګرو ته او نه هم په نشه یي توکو روږدو کسانو ته حکومتونو پاملرنه کړې. دغه دواړه له پامه غورځېدلي وو. د سوالګرو په منځ کې ډېری هغه یې د ناچارۍ ورځې دې کار ته لاس اچوي. اسلامي امارت په خپل دې بې ساري اقدام سره وښودله چې د هېوادوالو او په تیره بیا اړمنو کسانو لاسنیوی ورته لومړیتوب لري، هغه کسان چې د اقتصادي ستونزو له امله یې سوال ته مخه کړې ده، د دوی اقتصادي ستونزې په پام کې نیسي او وړ حل لارې ورته پیدا کوي.

**دویم:** خلکو په خپلو نظرونو کې دې ټکي ته هم اشاره کړې چې د کابل تیرې ادارې پر مهال، سره له دې چې په میلیونونو ډالر راتلل، دا کار ونه شو، لامل یې دا و چې په تیره اداره کې فساد اوج ته رسېدلی و او داسې

کارونه چې په هغو کې دې د هېوادوالو او په تیره بیا بې وزلو او له پامه غورځېدلو خلکو لاسنیوی وشي، نه کېده. اسلامي امارت په ډېرو کمو امکاناتو د دې جوګه شوی چې د داسې خلکو مرسته وکړي او د هغوی اقتصادي ستونزې حل او ښارونه له داسې سترو معضلو خلاص کړي. د دې کارونو له جملې یې همدا دوه ستر کارونه چې یو د سوالګرو راټولول او بل په نشه یي توکو د روږدو کسانو راغونډول او د هغوی درملنه ده.

✍ **درېیم:** ځینو خلکو وړاندیز کړی چې ستري او بنیادي پروژې دې پیل شي، څو خلکو ته د کار زمینه برابره شي. د اسلامي امارت په راتګ سره د سترو او بنیادي پروژو لکه قوش تېپې کانال، پیروزي ښارګوټي صنعتي پارک، د لویو لارو لکه کابل- کندهار، تر لسو ډېرو ولایتونو ته د تللو سړکونو بیارغونه او دغه راز نورې متوسطې او کوچنۍ پروژې پیل شوې، د دې تر څنګ یو شمېر دولتي فابریکې هم تر رغولو وروسته فعالې شوې دي.  دغه راز د ځینو هغو پروژو چې چارې یې نیمګړې پاتې دي، لکه کمال خان بند، پاشدان بند، شاه و عروس بند، د کابل – لوګر دوهم لین سړک او ځینو نورو پروژو د پاتې چارو د پیل له پاره په راتلونکي لمریز کال کې بودیجه ځانګړې او چارې به پیل شي. دا ټول هغه څه دي چې د هېواد د ابادۍ او سوکالۍ ترڅنګ به زرګونو کسانو ته د کار زمینه هم برابره کړي.

✍ **څلورم:** یو شمېر خلکو وړاندیز کړی چې د سوالګرو راټولولو پروسه دې نورو سترو ښارونو ته هم وغځول شي. اسلامي امارت غواړي چې د سوالګرو له معضلې نه یوازې کابل ښار، بلکې په وخت سره به د هېواد په نورو سترو ښارونو کې هم دې ستونزې ته پای ورکړي. دا پروسه هم امکاناتو او هم بودجې ته اړتیا لري چې د دې دواړو له چمتو کولو وروسته به دا پروسه د هېواد نورو برخو ته هم وغځول شي.

د اسلامي امارت مشرتابه تل په خپلو خبرو کې ټینګار کړی چې دوی د افغانستان مظلوم ملت د لاسنیوي له پاره خپلې هلې ځلې کوي. دوی په خپلو خبرو کې ویلي  چې باید په خپلو هڅو سره خپل ملت له احتیاجه خلاص کړي او افغانستان په هره برخه کې خودکفا کړي.

## پایله

په هره ټولنه کې د سوالګرو ستونزه او په ټوله کې اړ قشر شته. که نورو ټولنو ته وګورو، دغه ستونزه په هغو کې هم شته. البته کچه یې له غریبو او جنګ‌ځپلو هېوادونو سره توپیر لري. نو کومې پایلې ته چې په افغانستان او په ځانګړې توګه په کابل کې ښار کې د سوالګرو ستونزو د حل په برخه کې د خلکو د نظرونو په رڼا کې رسېږو دا ده چې د حکومت دغه اقدام یو بې‌مخینې او د پاملرنې وړ اقدام دی. حکومت د سوالګرو د ستونزو د حل لپاره یوه شفافه او بنسټیزه حللاره سنجولې. ټول سوالګر چې ښځې، نارینه، یتیمان او بې‌سرپرسته ماشومان پکې شامل دي، راټولوي؛ لومړی ثبت او بایومیټریک کېږي. بیا که د ځینو سوالګرو کوم کسب زده وي، په اړونده برخه کې د کار زمینه ورته مساعدېږي او له سرپرستانو یې ژمنه اخیستل کېږي، ترڅو په راتلونکي کې ګدایي ونه کړي. همدارنګه هغه سوالګر چې واقعاً مستحق دي او کار نه شي کولی، هغوی ته حکومت ټاکلې اندازه معاش ورکوي. پر دې سربېره د سوالګرو ماشومانو ته د زده‌کړې زمینه هم چمتو کېږي. که دا بهیر لکه څنګه چې پیل شوی، ادامه ومومي، په راتلونکي کې د کابل له الګو څخه ګټه اخیستی شو، ترڅو په ټول هېواد کې د ټولنې یوه غټه ستونزه حل شي. اسلامي امارت دې کار ته ژمن دی او هڅه یې دا ده چې د امکاناتو او بودیجې له چمتو کولو وروسته دا لړۍ د هېواد نورو برخو ته هم وغځوي.

# افغانستان کې له بهرنیو ځواکونو پاتې نظامي اډې پر ځانګړو اقتصادي زونونو بدلېږي



**سریزه:**

اقتصادي او ټولنیزه پراختیا او وده هغه بهیر دی چې له مخې یې د یوه ملت، سیمې، سیمه ییزې ټولنې او یوه شخص اقتصادي هوساینه او د ژوندانه کیفیت د ټاکل شویو موخو له مخې وده کوي. د یوه هېواد پراختیا، ګڼ شمېر مفاهیم په ځان کې رانغاړي، خو په عام ډول د زیاتو تولیداتو پر بنسټ اقتصادي وده، هغه سیاسي سیسټمونه چې د خپلو وګړو له لومړیتوبونو په بشپړه توګه یا د امکان تر کچې استازولي کولای شي، ټولو ټولنیزو ډلو ته د پراخو حقونو ورکول او د هغوی له پاره د فرصتونو برابرول دي. دغه چارې د اقتصاد، سیاست، ټولنې او عامه مدیریت په برخو کې د حکومت د مدیریت وړتیاوې څرګندوي. د افغانستان اسلامي امارت هم دې ټکو ته په پاملرنې سره د هېواد په هغو سیمو کې ځانګړي اقتصادي زونونه جوړوي چې له دې وړاندې هلته د بهرنیو ځواکونو اډې وې. د دې زونونو موخه د هېواد ملي اقتصاد پیاوړي کولو، عوایدو لوړولو او سوداګرۍ پراختیا ترڅنګ په هېواد کې د بې وزلۍ راکمول، د پانګونې جلبول او خلکو ته د کاري فرصتونو پیدا کول دي. دغه اقتصادي زونونه د هېواد په شمال، لوېدیځ، سویل لوېدیځ، ختیځ او سویل‌ختیځ کې د بهرنیو ځواکونو په پاتې نظامي اډو کې جوړېږي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې د ځانګړو اقتصادي زونونو د جوړېدو چمتو شوې طرح تایید شوه. پرېکړه وشوه چې د نظامي اډو تاسیسات دې د ملي دفاع وزارت له لوري د یوه پلان له مخې په تدریجي ډول د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته وسپارل شي. دغه راز د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته دنده وسپارل شوه چې د ځانګړو اقتصادي زونونو د جوړېدو چاره دې په ازمویښتي ډول له کابل او بلخ څخه پیل کړي. د ځانګړو اقتصادي زونونو جوړېدل ځکه مهم دي چې د دې زونونو په جوړېدو سره به د هېواد اقتصاد پیاوړی

او په مېلیونونو ډالر به د افغانستان خزانې ته جمع شي. د دې ترځنګ به د هېواد په ناخالصه تولیداتو کې زیاتوالی راشي، صادرات به زیات او سلګونو زره کسانو ته به د کار زمینه برابره شي. اسلامي امارت هم دې ټکو ته په پاملرنې سره دا ګام اوچت کړی دی. د اسلامي امارت موخه همدا ده چې اقتصاد غښتلی، عواید زیات او تر ټولو سترې ستونزې ته چې بې کاري ده، پای ورکړي.

## افغانستان کې له بهرنیو ځواکونو پاتې نظامي اډې پر ځانګړو اقتصادي زونونو بدلېدو موخه:

د دغه کار موخه د هېواد ملي اقتصاد پیاوړي کول، د عوایدو لوړول او سوداګرۍ پراختیا ترڅنګ په هېواد کې د بې وزلۍ راکمول، د پانګونې جلبول او خلکو ته د کاري فرصتونو برابرول دي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولولو کمپېتې» خبر یې خپور کړی دی:

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:




**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي، خصوصي او بهرنیو رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې افغانستان کې له بهرنیو ځواکونو پاتې نظامي اډې پر ځانګړو اقتصادي زونونو بدلېدو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

# په دولتي، خصوصي او بهرنیو رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ورځپاڼې




### ویبپاڼې




### اژانسونه




### ویاندویان



## ټويټرپاڼې




## په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## په خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلويزيونونه




### راډيوګانې




### ورځپاڼې




### اژانسونه



## ویبپاڼې




## په بهرنیو رسنیو کې د نظرونو ارزونه




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




**افغانستان کې له بهرنیو ځواکونو پاتې نظامي اډې پر ځانګړو اقتصادي زونونو بدلېدو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه**

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسئلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان زیاته ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

. افغانستان کې له بهرنیو ځواکونو پاتې نظامي اډې پر ځانګړو اقتصادي زونونو بدلېدو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، ویاندویانو، ویبپاڼو، راډیوګانو، ورځپاڼو، اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۹۶۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۷۹۲مثبت دي. ۱۳۱منفي نظرونه او ۴۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۲ ٪، منفي ۱۳ ٪ او سالم وړاندیزونه ۵ ٪ دي.

۲. همدارنګه افغانستان کې له بهرنیو ځواکونو پاتې نظامي اډې پر ځانګړو اقتصادي زونونو بدلېدو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۵۷۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۹۵۱ مثبت، ۴۵۱ منفي او ۱۷۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۶۰ ٪، منفي نظرونه ۲۹ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۱ ٪ دي.

۳. دغه راز افغانستان کې له بهرنیو ځواکونو پاتې نظامي اډې پر ځانګړو اقتصادي زونونو بدلېدو خبر په اړه بهرنیو رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په بهرنیو رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۹۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۵۰ مثبت، ۷۵ منفي او ۷۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۵۰ ٪، منفي نظرونه ۲۵ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲۵ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي او بهرنیو رسنیو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۲، په خصوصي رسنیو کې ۶۰ او بهرنیو رسنیو کې دا سلنه ۵۰ ده. خو په خصوصي او بهرنیو رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۲۹، بهرنیو رسنیو کې ۲۵ او په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۱۳ده.

که پـه دولتـي، خصـوصي او بهرنیـو رسـنیو کـې مثبـت او منفي نظرونـه او سـالم وړاندیزونه جمع کـړو، په ټوله کې ۱۸۹۳ مثبـت نظرونـه، ٦٥٧ منفـي نظرونـه او ۲۹۱ سـالم وړاندیزونـه دي چـې لـه مخـې یـې ٦٧ ٪ مثبـت نظرونـه، ۲۳ ٪ منفـي نظرونـه او ۱۰ ٪ سـالم وړاندیزونـه دي.

## دا چې د خصوصي او بهرنیو رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنې کچه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یـو لامـل یـې دا دی چـې پـه حکومتـي کچـه ترسره شـوې کړنـې تـر ډېره بریـده د دولتي رسـنیو له لـوري تر پوښـښ لاندې راځـي. افغانسـتان کـې لـه بهرنیـو ځواکونـو پاتـې نظامـي اډې پـر ځانګـړو اقتصـادي زونونـو د بدلېـدو پـلان د حکومت له لـوري وړانـدې شـوی دی، نـو لـه دې املـه یـې خبرونـه په دولتي رسـنیو کـې په زیاتـه کچه خپرېـږي. د دې خبر پـه اړه که څـه هـم پـه دولتـي رسـنیو کـې د مثبتـو نظرونـو سـلنه لـوړه ده، خـو پـه خصـوصي او بهرنیـو رسـنیو کې هـم خلکـو نظرونه ورکـړي دي چـې سـلنه یـې پـه ترتیـب سره ٦٠ او ۵٠ تـه رسـېږي. هـر خـبر او راپـور چـې زیـات خپـور شي، نـو پـه اړه یـې نظرونـه هـم زیـات وي. لـه دې څخـه جوتېـږي چـې خلـک د حکومت لـه لوري پورته شـوی هر ګام کـره څاري او پـه اړه یې خپل نظـر وړانـدې کوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو  نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونـې وړ ده چـې دلتـه مـوږ یـوازې د ګوتـو پـه شـمېر نظرونـه چـې پـه هغـو کـې مثبـت او منفـي نظرونـه او وړاندیزونـه شـامل دي، ذکـر کـړي دي، ځکـه د ټولـو نظرونو یادونه د لیکنـې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شـمېر سـلګونو ته رسـېږي.

- لـه دې سره بـه د هېـواد اقتصـادي وضعیـت وغوړېـږي او دا به نور سـکټورونه هم له ځان سره راپورتـه او د پرمختګ پـه لـور بوځـي.
- پـر ځـای اقـدام دی، د دې پروګـرام پـه عمـلي کېـدو سره بـه یـو زیات شـمېر خلکـو ته په مسـتقیم او غیر مسـتقیم ډول د کار زمینـه برابـره شي او هـم بـه عوایـد ورسره لـوړ شي.
- دا د ربښتیني اسلامي نظام له اړخه نړۍ ته د امن او انسانیت ته د ښیرازۍ ستر پیغام دی.
- پوځي ځایونه باید سرحداتو ته نقل شي، نور په ملکي ځایونو کې پوځي اډو ته ضرورت نشته.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی:** خلکو په خپلو نظرونو کې د دې پرېکړې تود هرکلی کړی دی. دوی وایي چې له دې سره به د هېواد اقتصادي وضعیت وغوړېږي او دا به نور سکټورنه هم له ځان سره راپورته او د پرمختګ په لور بوځي. د دوی دا نظر پر ځای دی، ځکه هر حکومت هڅه کوي، هغه چارې پیل کړي چې له امله یې ملي اقتصاد په پښو ودرېږي او له دې سره په هېواد کې بې وزلي پای ومومي. اسلامي امارت د همدې موخې ترلاسه کولو له پاره د اقتصادي زونونو جوړېدو ته مخه کړې ده. دا زونونه بیا په هغو نظامي اډو کې جوړوي چېرې چې پخوا بهرني ځواکونه مېشت او له دې ځایونو یې د نظامي موخو له پاره ګټه پورته کوله. اوسمهال چې په افغانستان کې بشپړ امنیت ټینګ دی، نو د دې اډو شتون ته هم چندان اړتیا نشته او که دا اډې چې د وسایلو او تجهیزاتو له پلوه سمبال دي، په اقتصادي زونونو بدلې شي، نو له یوه لوري به د هېواد اقتصادي وده پیاوړې شي او له بل لوري به هغه سکټورونه چې په اقتصادي زونونو پورې تړاو لري، په پښو ودرېږي او د پرمختګ په لور به ګامونه پورته کړي.

**دویم:** د خلکو په نظرونو کې یو بل ټکي ته هم اشاره شوې ده او هغه دا چې د دې پروګرام په عملي کېدو سره به یو زیات شمېر خلکو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي. دا پر ځای خبره ده، که چېرې خلکو ته د کار زمینه برابره شي، نو له شک پرته چې د هغوی اقتصادي ستونزې هم هوارېږي او هېواد هم د پرمختګ په لور ګړندي ګامونه اخلي. خلکو  ته د کار زمینې برابرول د حکومت مسوولیت دی. اسلامي امارت همدې مسوولیت ته په پام خپلې ټولې هڅې پیل کړې دي چې د خلکو له پاره د کار زمینه برابره کړي. د ځانګړو اقتصادي زونونو جوړېدل د همدې مسوولیت یوه برخه ده. له دې وړاندې هم اسلامي امارت د هېواد په کچه د کار موندلو له پاره سترې، منځنۍ او متوسطې پروژې پیل کړې دي چې ځینې یې بشپړې او پر یو شمېر یې کار روان دی. په دې پروژو کې د لویو لارو جوړول، بندونو او نهرونو جوړول او پاکول، د پلونو رغول او داسې نورو چارې روانې دي او په راتلونکي کال کې د هغو پروژو له پاره هم بودیجه په پام کې نیول شوې چې کارونه یې نیمګړي پاتې وو. له دې سره به په راتلونکي کال کې په یادو پروژو کې یو زیات شمېر خلکو ته د کار زمینه برابره شي.

**درېیم:** د خلکو په نظرونو کې ځینې وایي چې له بهرنیو ځواکونو پاتې نظامي اډې دې په خپل حال پاتې او نظامي برخه کې دې ترې ګټه پورته شي. دا سمه ده خو یو څه چې د یادونې وړ دي، هغه دا دي چې د افغانستان اراضي پراخه او له پخوا نظامي تاسیسات شته. دا تاسیسات له هر اړخه د افغانستان د نظامي برخې له پاره بسنه کوي. موږ دا نه وایو چې نظامي برخه دې له پامه وغورځول شي، بلکې اوسمهال د افغانستان د اقتصاد پیاوړي کولو ته هم اړتیا ده. دا نظامي اډې که په ځانګړو اقتصادي زونونو بدلې شي، د هېواد نظامي برخې ته کوم زیان نه اوړي، خو په جوړېدو به یې ملي اقتصاد حتماً پیاوړی شي.

✍ **څلورم:** یو شمېر خلکو بیا وړاندیز کړی چې نظامي اډې دې لـه ملکـي سیمو لـرې او سرحداتو تـه ولېږدول شي. د دوی دا وړاندیز پر ځای دی. پـه رښتیا هـم پـه ملکـي ساحو کـې نظامـي اډې د ګټـې پـر ځای زیـان لري. د نـړۍ پـه یـوه هېـواد کـې هم داسـې نشـته چـې ملکـي او نظامي سـاحې دې ګـډې وي، بلکـې د نظامي برخې لـه پاره جلا ځایونـه پـه نظر کـې نیـول کېـږي. اسلامي امـارت دې ټکي تـه هـم پـام کـړی دی. د ځانګـړو اقتصـادي زونونو د جوړېـدو د لاملونـو لـه منځـه یـو لامل همـدا هم کېـدای شي.

د اسـلامي امـارت مشرتابـه تـل پـه خپلـو خـبرو کې ټینګار کـړی چې دوی هڅـه کوي هغـه کارونه ترسره کـړي چې هم د هېـواد پـه ګټـه وي او هـم یـې خیـر هېوادوالـو ته ورسـېږي. د ځانګړو اقتصـادي زونونـو د جوړېدو یوه موخـه همدا ده چـې لـه یـوه لـوري اقتصـاد غښـتلی شي او لـه بـل لـوري خلکو تـه د کار زمینـه برابـره شي. دوی په خپلو خـبرو کې تل ویـلي چـې بایـد پـه خپلـو هڅو سره خپـل ملت لـه احتیاجه خـلاص او افغانسـتان پر ځان بسـیا کړي.

## پایله

د افغانسـتان اسـلامي امـارت د یـوه مسـوول حکومـت پـه توګـه تل هڅه کـړې ده چې په هېـواد کې اقتصـادي ثبات ټینګ کـړي. د اقتصـادي ثبـات پـه ټینګښـت سره بـه د اقتصـاد پـه برخـه کې شـته سـتونزې هـوارې او خلکو تـه به د هوسـا ژوند زمینـه برابـره شي. پـه همـدې موخـه د هېـواد پـه هغو سـیمو کـې ځانګـړي اقتصـادي زونونه جوړېـږي چې لـه دې وړاندې هلتـه د بهرنیـو ځواکونـو اډې وې. د دې زونونـو موخـه د هېـواد مـلي اقتصـاد پیـاوړې کولو، عوایـدو لوړولو او سـوداګریزې پراختیـا ترڅنـګ پـه هېـواد کـې د بـې وزلـۍ راکمـول، د پانګونـې جلبـول او خلکـو تـه د کار مونـدل دي. دغـه اقتصـادي زونونـه د هېـواد پـه شـمال، لوېدیـځ، سـویل لوېدیـځ، ختیځ او سـویل ختیځ کـې د بهرنیو ځواکونـو په پاتې نظامـي اډو کې جوړېـږي. د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال محـترم مـلا عبدالغنـي برادر پـه مشرۍ د اقتصادي کمېسـیون پـه نوبتي غونـډه کـې د اقتصـادي ځانګـړو زونونو د جوړېدو چمتو شـوې طرح تایید شـوه. پرېکړه وشـوه چې د نظامي اډو تاسیسـات دې د مـلي دفـاع وزارت لـه لـوري د یـوه پـلان له مخې په تدریجي ډول د صنعت او سـوداګرۍ وزارت ته وسـپارل شي. دغه راز د صنعـت او سـوداګرۍ وزارت تـه دنـده وسـپارل شـوه چې د ځانګړو اقتصـادي زونونو د جوړېدو چاره دې په ازمویښـتي ډول لـه کابـل او بلـخ څخـه پیـل کـړي. کلـه چـې دا ځانګـړي اقتصـادي زونونـه جـوړ او چـارې یې بشـپړې شي، نـو په ډاډ سره ویـلای شـو چـې د هېـواد مـلي اقتصـاد بـه وده وکـړي، زرګونـو کسـانو تـه بـه د کار زمینـه برابـره شي او هېـواد بـه د پر مختللـو هېوادونـو پـه کتار کـې ودرېږي.

# ۱۴۰۲ لمریز کال کې به د ۱۱ نیمګړو زېربنايي پروژو چارې پیل شي



## سریزه:

افغانستان له څلور لسیزو را هېسې له بحران، جګړې او بهرني یرغل سره لاس او ګریوان دی، دغه هېواد انحصاري اقتصاد درلود، په دې موده کې په افغانستان کې نه حاکمو حکومتونو او نه هم په افغانستان کې ښکېلو هېوادونو کوم بنسټيز کار کړی او دغه هېواد په تولیز ډول له یوه ګډوډ او نابرابر اقتصاد سره مخ شو. په تېرو شلو کلونو کې په افغانستان کې د بیارغونې شعارونه ورکول کېدل، خو عملي جامه یې نه اغوسته. د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د یو باثباته اقتصاد رامنځته کولو په فکر کې دی او په دې برخه کې پانګونه کوي او هڅه کوي چې هېواد له بهرني اقتصادي انحصار څخه وژغوري، د اسلامي امارت مسوولین په دې باور دي، بهرنی مرستې چې د ځانګړو موخو له پاره ورکول کېږي، مقطعي او لنډمهاله دي او ګټې یې هم لنډمهاله دي، په داسې حال کې چې اسلامي امارت دوامدارې بیارغونې ته ژمن دی او د یو متوازن او مخ پر ودې اقتصاد جوړولو له پاره هڅې کوي، دا چاره هغه مهال شونې ده چې سترې او بنسټيزې پروژې پیل شي. په همدې موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون له لوري مالیې وزارت ته دنده وسپارل شوه، څو هغه سترې زیربنایي پروژې چې د کارونو ډېره برخه یې ترسره شوې او د بشپړېدو له پاره کمې بودیجې ته اړتیا لري، تشخیص کړي. مالیې وزارت د اقتصادي کمېسیون له پرېکړې سره سم د کمال خان بند، شاه وعروس بند، پاشدان بند، له فرخار تر ورسج اسفالټ پروژه، د کابل – لوګر سړک دویم لین، د خوست او تخار هوایي ډګرونو ترمینل، پارکېنګ او نورې چارې، د قلعه نو ښار د اوبو رسونې او بادغیس بند پروژه، د مزار شریف د تخته پُل د څښاک د

پاکو اوبو پروژه، د شبرغان د ښباک د پاکو اوبو پروژه، په بېلابېلو ولایتونو کې د ۱۴ ښارګوټو د اوبو رسوني پروژې او د کابل په علي آباد روغتون کې د سرطاني ناروغیو د درملنې مرکز جوړولو پروژې په ګوته کړې چې راتلونکي مالي کال پراختیایي بودیجه کې به پیسې ورته ځانګړې او چارې به یې پیل شي.

## ۱۴۰۲ لمریز کال کې د ۱۱ نیمګړو زېربنایي پروژو چارو پیلېدو موخه:

موخه یې د هېواد بیارغونه، ملي اقتصاد پیاوړي کول، پر ځان بسیاینه او په هېواد کې د بې روزګارۍ ستونزې ته پای ورکول دي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «۱۴۰۲ لمریز کال کې د ۱۱ نیمګړو زېربنایي پروژو چارو پیلېدو» خبر یې خپور کړی دی:**

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:




**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې ۱۴۰۲ لمریز کال کې د ۱۱ نیمګړو زېربنایي پروژو چارو پیلېدو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### ویب پاڼې




### اژانسونه




### ویاندویان




### ټویټرپاڼې




### په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ورځپاڼې




### ویبپاڼې




### اژانسونه




### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## ۱۴۰۲لمریز کال کې د ۱۱ نیمګړو زیربنایي پروژو چارو پیلېدو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

پـه رسـنیو او ټولنیـزو شـبکو کـې د خلـکو مثبتـو او منفـي نظرونـو او وړاندیزونو څېړنـه او ارزونـه  د خلکو نظرونو روښـانتیا او هغـو تـه د پاملرنـې پـه مانـا ده. د دې مسـئلې ارزونـه او خپرول خلکو او ټولنـې ته دا فرصت په لاس ورکـوي چې د حکومت د پریکـړو، کړنـو او پـروژو پـه اړه خپـل نظرونه، غوښـتنې، نیوکې او وړاندیزونـه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

کـه پـه ټولنیـزو شـبکو کـې د هېوادوالـو ونـډه اوفعالیـت و څېـړو، نـو وبه وینو چـې په افغانسـتان کـې زیاتره خلـک د ټوېټر پـر ځـای فېسـبوک کاروي. خـو پـه ټوېټـر کـې بیـا تـر ډېـره بریده رسـمي- حکومتـي مسـوولین او د سـیاسي، اقتصـادي او فرهنګـي ډګـر فعـالان زیاته ونډه لري. له همدې امله د افغانسـتان اسـلامي امارت رسـمي او نارسـمي کسـان تر فېسـبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسـنیو، دولتي او نادولتي بنسـټونو اړوندې ټولنیزې شـبکې او همدارنګه د سـیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسـمي اشـخاصو او بنسـټونو تر پوښـښ لاندې راوسـتو پـه موخـه پـه فېسـبوک او ټوېټـر دواړو کې فعـال دي او هر ورځ خبرونه، شـخصي، رسـمي او نارسـمي راپوروونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو ځېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. ۱۴۰۲ لمریز کال کې د ۱۱ نیمګړو زېربنایي پروژو چارو پیلېدو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، ویاندویانو، ویبپاڼو، اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۸۴۰ دی. د دې نظرونو له جملې ۷۰۵مثبت دي. ۹۰منفي نظرونه او ۴۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۴ ٪، منفي ۱۱ ٪ او سالم وړاندیزونه ۵ ٪ دي.

۲. همدارنګه ۱۴۰۲ لمریز کال کې د ۱۱ نیمګړو زېربنایي پروژو چارو پیلېدو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۳۱۹ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۷۱۹ مثبت، ۱۶۲ منفي او ۴۳۸ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۴ ٪، منفي نظرونه ۷ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۹ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۴ ، په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۴ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د سالمو وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ۱۹ او په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۱۱ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۴۲۴ مثبت نظرونه، ۲۵۲ منفي نظرونه او ۴۸۳ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۷ ٪ مثبت نظرونه، ۸ ٪ منفي نظرونه او ۱۵ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو د سلنې کچه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دا دی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره برېده د دولتي رسنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. ۱۴۰۲ لمریز کال کې د ۱۱ نیمګړو زېربنایي پروژو چارو پیلېدو پلان د حکومت دی، نو له دې امله یې خبرونه په دولتي رسنیو کې په زیاته کچه خپرېږي. د دې خبر په اړه که څه هم په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، خو په خصوصي رسنیو کې هم د مثبتو نظرونو سلنه د پام وړ ده. هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه زیات او سلنه یې لوړه وي. له دې څخه جوتېږي چې خلک د حکومت له لوري پورته شوی هر ګام کره څاري او په اړه یې خپل نظر وړاندې کوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- اسلامي امارت د اقتصاد په برخه کې هغه ګامونه اوچت کړل چې د ملت او ولس غوښتنه وه.
- مننه کوو چې اسلامي امارت د نیمګړو پروژو د سرته رسولو اقدام کړی، دا یوازې د ۱۴۰۲ لمریز کال په پراختیایی بودیجه کې پیسې ورته ځانګړې کېږي چې له برکته به یې ۱۱ پروژې سرته ورسېږي. یعنی په کال کې ۱۱ ملي پروژو بشپړېدل د افتخار ځای دی.
- که په دې پروژو کې د کوکچې ولسوالۍ د سړک جوړېدل هم شامل وای، نو ډېر به ښه و. د دې ولسوالۍ خلک د سړک د خرابۍ له امله له سختو ستونزو سره لاس او ګریوان دي. ان ناروغان د سړک د خرابوالي له امله ولایتي روغتون ته په وخت نه رسېږي او ځینې په لاره کې خپل ژوند له لاسه ورکوي.
- د سترو پروژو تکمیلېدل د افغانستان د پرمختللي اقتصاد ضمانت کوي.
- ښه تصمیم دی، ټولې هغه پراختیایي پروژې چې کارونه یې په ټپه ولاړ دي، کارونه یې باید شروع شي، له دې سره به د افغانستان اقتصادي وضعیت د بهبود خوا ته لاړ شي.
- د چک ولسوالۍ بند او فابریکې ته باید توجه وشي او نیمګړي کارونه یې تکمیل شي، د سالنګ لاره زیاته خرابه ده، باید توجه ورته وشي، د کندوز خان اباد د بربښنا بند جوړ شي، د نوي کابل پروژه دې پیل شي، کابل- جلال اباد سړک دویم لین، مچلغو بند، د بغلان کیلګي سیمې د اوبو بند دې جوړ شي، د کندوز- مزارشریف سړک دې جوړ شي، کابل- کندهار سړک بیارغونه او داسې نورو پروژو د چارو پیلېدو وړاندیزونه شوي دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسئلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی:** په ټوله کې د خلکو له نظرونو داسې ښکاري چې دوی د دې ستر او پر ځای ګام هرکلی کړی دی. دوی وایي چې اسلامي امارت د اقتصاد په برخه کې داسې ګامونه اوچت کړل چې د ملت او ولس غوښتنه وه او د سترو پروژو په بشپړېدو سره به د افغانستان اقتصاد وده وکړي. د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د یو باثباته اقتصاد رامنځته کولو په فکر کې دی او په دې برخه کې پانګونه کوي او هڅه کوي چې هېواد له بهرني اقتصادي انحصار څخه وژغوري. موږ هغه مهال له اقتصادي انحصار څخه ژغورل کېدای شو چې هېواد مو په هره برخه کې پر ځان بسیا شي. د دې ځان بساینې له پاره اړینه ده، هغه پروژې چې د هېواد په اقتصادي وده کې اغېزناک رول لري، بشپړې او د ځینو یې چارې پیل شي. په دې برخه کې اسلامي امارت تر دې مهاله کوټلي ګامونه پورته کړي دي او ډېری هغه پروژې یې پیل کړې چې کولای شي په ځانګړو برخو کې افغانستان ځان بساینې ته ورسوي.

✍ **دویم:** د خلکو په نظرونو کې دا هم ویل شوي چې ټولې هغه پراختیایي پروژې دې پیل شي چې کارونه یې په ټپه ولاړ دي. د دوی نظرونه د پام وړ دي. اسلامي امارت تل هڅه کړې چې ځینې بنسټیزې پروژې له سره پیل کړي او د ځینو هغو پروژو له پاره یې پلانونه چمتو کړي دي چې کارونه یې نیمګړي پاتې دي. اوسمهال همدا ۱۱ بنسټیزو پروژو ته د راتلونکي کال په پراختیایي بودیجه کې پیسې په پام کې نیول شوې دي او کارونه به یې پیل شي. دغه راز په راتلونکو کلونو کې به د نورو پروژو د بشپړېدو له پاره هم بودیجه ځانګړې کېږي. اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په هغه اعلامیه کې چې د نړیوال بانک له لوري د افغانستان اقتصاد ښه کېدو د راپور په اړه خپره کړه، په یاده اعلامیه کې له هغو سازمانونو لکه نړیوال بانک څخه هم غوښتنه شوې وه چې په افغانستان کې دې د خپلو نیمګړو پروژو پاتې چارې له سره پیل او بشپړې کړي. ددې امکان شته چې د اسلامي امارت له لوري پر نیمګړو پروژو د کار پیلېدو سره د یاد سازمان په څېر نور هغه بنسټونه هم د خپلو هغو نیمګړو پروژو د بشپړېدو چارې پیل کړي چې پخوا یې په افغانستان کې شروع کړې وې. په هر صورت اسلامي امارت تر ډېره پر بهرنیو مرستو تکیه نه کوي او هڅه یې دا ده چې د هېواد پرمختګ او خلکو ته د سوکاله ژوند برابرولو په برخه کې خپله لاس په کار او له کورنیو عوایدو دا هر څه ترسره کړي او په دې برخه کې تر ډېره بریده بریالی شوی هم دی.

✍ **درېیم:** دلته یو شمېر خلکو بیا په خپلو سیمو کې د ځینو پروژو د پیل وړاندیز کړی دی. د دې پروژو له جملې کولای شو چې ځینې یې د بیلګې په ډول دلته یادې کړو. د چک ولسوالۍ بند او فابریکه، د سالنګ لویې لارې بیارغونه، د کندوز خان آباد د برېښنا بند، د نوي کابل پروژه، کابل- جلال اباد سړک دویم لین، مچلغو بند، کابل- کندهار سړک رغونې او داسې نورو پروژو د نیمګړو کارونو بشپړول او د ځینو یې له سره جوړولو وړاندیزونه شوي دي. اسلامي امارت له دې جملې څخه د سالنګونو د لویې لارې د رغونې چارې پیل کړې دي او کارونه یې تر یوه حده بشپړ شوي هم دي. د کابل- کندهار سړک د رغونې چارې پیل شوې دي او هڅه داده چې ددې سړک چې یو ټرانزیټي سړک دی، د بیارغونې چارې یې ژر تر ژره پای ته ورسېږي او په دې سړک شته ترانسپورټي ستونزې هوارې شي. اسلامي امارت هڅه دا ده چې په هېواد کې ټولې هغه پروژې چې کارونه یې نیمګړي پاتې دي، بشپړې کړي، ټولو پروژو ته د اړتیا پر بنسټ لومړیتوب ورکول کېږي. هغه پروژې چې اړینې دي هغه لومړی او ورپسې به ټولې هغه پروژې چې کارونه یې نیمګړي پاتې دي، بېرته پیل او ځینې نوې پروژې به هم پیل شي.

✍ **څلورم:** ځینو خلکو په خپلو نظرونو کې ویلي چې ګنې د بیارغونې په برخه کې زیاترو سیمو ته پاملرنه نه کېږي. خو داسې نه ده، د اسلامي امارت مشرتابه په ټول هېواد کې پر متوازن انکشاف تمرکز کوي. هڅه یې دا ده چې له ولسوالیو نیولې بیا تر ولایتونو او ان ښارونو پورې د بیارغونې چارې په متوازن ډول پرمخ ولاړې شي. هڅه داده چې د امکاناتو په صورت کې هغه کارونه ترسره شي چې هم اقتصادي ګټه ولري او هم خلکو ته پکې د کار روزګار زمینه برابره شي. د دې یوولسو پروژو د چارو په پیلېدو سره به زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي او د خلکو اقتصادي ستونزې به ورسره هوارې شي.

## پایله

افغانستان لـه کلونـو راهیسـې لـه سـتونزو سره لاس او ګریـوان دی، له دې ورانـدې د هېـواد اقتصاد انحصـاري بڼه درلوده، پـه دې مـوده کـې پـه افغانسـتان کـې نه حاکمـو حکومتونو او نه هـم په افغانسـتان کې ښـکېلو هېوادونو کوم بنسـټيز کار کـړی او دغـه هېـواد پـه ټولیـز ډول لـه یـوه ګـډوډ او نابرابـر اقتصـاد سره مـخ شـو. پـه تېـرو کلونو کـې د بیارغونې شـعارونه ورکـول کېـدل، خـو عمـلي جامـه يې نه اغوسـته. د افغانسـتان اسـلامي امـارت په هېـواد کې د یـو باثباته اقتصـاد رامنځته کولـو پـه فکـر کـې دی او پـه دې برخـه کـې پانګونـه کـوي او هڅـه کـوي چـې هېـواد لـه بهـرني اقتصـادي انحصـار څخـه وژغـوري، د اسـلامي امـارت چـارواکـي پـه دې بـاور دي، هغـه بهرنـۍ مرسـتې چـې د ځانګـړو موخـو له پـاره ورکـول کېـږي، مقطعـي او لنډمهالـه دي او ګټـې يـې هـم لنډ مهاله دي، په داسـې حال کې چې اسـلامي امـارت دوامـدارې بیارغونې ته ژمـن دی او د يـوه متـوازن او مـخ پـر ودې اقتصـاد جوړولـو لـه پـاره هڅـې کـوي، دا چـاره هغـه مهال شـونې ده چې سـترې او بنسـټيزې پـروژې پیـل شي. د دغـه ۱۱ پـروژو هـم اقتصـادي او هـم بنسـټيز اړخ پيـاوړی دی. لـه همـدې امله اسـلامي امـارت وپتېیلـه چـې داسـې پـروژې بشـپړې او عمـلي کـړي چې لـه اقتصادي اړخه افغانسـتان تـه ګټه ورسـوي او هم خلکو تـه د کار زمینـه برابـره کـړي. د دغـو پـروژو پـه بشـپړېدو سره بـه د اقتصاد پـه برخه کې پرمختـګ وشي ډېری خلکـو ته به د کاري زمینـې بـه برابرېـدو سره د هغـوی اقتصـادي سـتونزې هـوارې شي. اسـلامي امارت پر همـدې پروژو بسـنه نه کوي د بودیجـې او امکاناتـو برابرېـدو پـه صـورت کـې هڅـه کـوي د قـوش تېپې کانال په څېر سـترې او مـلي پروژې پیـل کـړي. په دې پـروژو کـې بـه د ریـل پټلـۍ او د برېښـنا پـروژې شـاملې وي چې په عمـلي کېدو سره به يې افغانسـتان له سـيمې سره ونښـلول شي او د برېښـنا پـه برخـه کـې به د نـورو له احتیاجـه خلاص شي.

# په هېواد کې لسګونو بهرنیو لویو کمپنیو په بېلا بېلو سکټورونو کې شاوخوا د ۱۰ میلیارد ډالرو په ارزښت د پانګونې له پاره لېوالتیا ښودلې ده





**سریزه:**

د یوې ټولنې او یا هم یو هېواد اقتصاد پر پانګونې ولاړ وي، ځکه د پانګونې له امله تولید رامنځته کېږي او تولید بیا هغه څه دی چې د وګړو ډېرې فعالیتونه د اقتصادي تحرک په موخه سره را یو ځای کوي. څوک مستقیماً د تولید په پروسه کې ښکېل وي، څوک ورته خام مواد برابروي، د چا دنده ورته بازارموندنه وي او یو شمېر یې پر نورو چارو بوخت وي. دا ټول هغه څه دي چې له پانګونې سرچینه اخلي، ځکه خو باید د اقتصادي نظام د خوځښت په موخه پانګونه تشویق، حمایه او وهڅول شي. ټول وروسته پاتې یا د پرمختګ په حال کې هېوادونه ځکه د فقر تر بدمرغه کړښې لاندې وي چې هلته پانګونه نشته او یا هم په داسې هېوادونو کې د پانګونې کچه ډېره ټیټه ده. نن سبا ډېری مخ پر ودې هېوادونو د بهرنیو پانګوالو پرمخ خپلې دروازې پرانیستې دي. هغوی دا کار د پانګې د جوړولو او په هېواد کې د پانګونې د کچې د زیاتوالي په موخه کوي. دغه بهرنۍ پانګونې ته چې د مستقیمي بهرنۍ پانګونې نوم ورکول کېږي په اوسني وخت کې د هېوادونو تر منځ د اقتصادي نږدېوالي او په ټوله کې د نړیوالتوب یا ګلوبلایزیشن زېږنده او ځانګړنه ده. زمونږ ګران هېواد افغانستان هم د مخ پر ودې هېوادونو په کتار کې راځي چې تازه د اقتصادي ودې او پرمختګ بهیر ته داخل شوی دی. د مخ پر ودې هېوادونو د ځانګړونو په اساس مونږ هم د پانګې له کمبود سره مخ یوو، ځکه خو باید د نورو مخ پر ودې او یا پرمختللو هېوادونو له تجربو ګټه واخلو او د خپلې اقتصادي ودې، پرمختګ او هوساینې لپاره هغه ټولې لارې چارې په کار واچوو چې زمونږ له اقتصادي پرمختګ سره مرسته کوي. لکه مخکې مو چې وویل له دغو لارو چارو څخه یوه هم بهرنۍ پانګونه ده. اسلامي امارت هم دې ټکو ته په پاملرنې سره هڅه پیل کړې ده چې بهرنۍ پانګونه راجلب او پر مټ یې اقتصاد ته وده ورکړي. په هېواد کې د اشغال له پای ته رسېدو

او د اسلامي امارت په واکمنېدو سره د بهرنۍ پانګونې له پاره هڅې ګړندۍ او زمينه برابره شوې ده. له تېر يوه نيم کال راهيسې لسګونو بهرنيو لويو کمپنيو په مختلفو سکتورونو کې د شاوخوا ۱۰ مېليارد ډالرو په ارزښت پانګونې ته لېوالتيا ښودلې ده. يادې کمپنۍ چې ډېرى يې د سيمې، عربي نړۍ او ګاونډيو هېوادونو کې کاري سابقه لري د کانونو، کرنې، برېښنا او انرژۍ، ترانسپورت، دغه راز په کوچنيو متشبثاتو، د ګمرکونو عصري کېدو، هوايي ډګرونو کې د خدماتو وړاندې کولو، ترانزيټ، صنعتي پارکونو جوړولو او ريل پټلۍ په برخو کې پانګونې ته لېوالتيا ښودلې ده. له دې جملې له يو شمېر بهرنيو کمپنيو سره د کانونو استخراج او پروسس، په هوايي ډګرونو کې د خدماتو وړاندې کولو او صنعتي پارکونو جوړولو په برخه کې قراردادونه ترسره او عملي چارې يې پيل شوې دي چې د پانګونې ټوليز ارزښت يې تر ۲ ميليارد ډالرو رسېږي. همدارنګه د ګمرکونو عصري کولو او نورو برخو کې به هم په نېږدې راتلونکي کې له بهرنيو کمپنيو سره قراردادونه لاسليک او عملي چارې به يې پيل شي.

### په هېواد کې لسګونو بهرنيو لويو کمپنيو په بېلا بېلو سکتورونو کې شاوخوا د ۱۰ ميليارد ډالرو په ارزښت د پانګونې له پاره لېوالتيا ښودلو موخه:

موخه يې دا ده چې د مخ پر ودې او يا پرمختللو هېوادونو له تجربو څخه په ګټې اخيستنې سره د خپلې اقتصادي ودې، پرمختګ او هوسايني له پاره له هغو لارو چارو څخه ګټه پورته کړو چې زمونږ له اقتصادي پرمختګ سره مرسته کوي، له دې لارو چارو څخه يوه هم بهرنۍ پانګونه ده.

**په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «په هېواد کې لسګونو بهرنيو لويو کمپنيو په بېلابېلو سکتورونو کې شاوخوا ۱۰ ميليارد ډالرو په ارزښت د پانګونې له پاره لېوالتيا ښودلو» خبر يې خپور کړی دی:**

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:

**يادونـه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسـنيو کـې د خلکـو نظرونو سـلنه ښـودل کېږي چې پـه هېـواد کـې يـې لسـګونو بهرنيـو لويـو کمپنيـو پـه بېلابېلـو سـکتورونو کـې شـاوخوا ۱۰ مېليـارډ ډالرو پـه ارزښـت د پانګونـې لـه پـاره ليوالتيـا ښـودلو راپـور پـه ويډيويـي، غږيـزه او چاپـي بڼـه خپور کـړې دی.




## په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

#### تلويزيونونه




#### راډيوګانې




#### ورځپاڼې




#### ويبپاڼې



### اژانسونه




### ویاندویان




### ټویټرپاڼې




### په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې



## ورځپاڼې




## ویبپاڼې




## اژانسونه




## خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



## په هېواد کې لسګونو بهرنیو لویو کمپنیو په بېلا بېلو سکټورونو کې د شاوخوا ۱۰میلیارد ډالرو په ارزښت د پانګونې له پاره لیوالتیا ښودلو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسئلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان زیاته ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

### د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. په هېواد کې لسګونو لویو بهرنیو کمپنیو په بېلا بېلو سکټورونو کې شاوخوا ۱۰مېلیارد ډالرو په ارزښت د پانګونې له پاره لېوالتیا ښودلو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، ویبپاڼو، اژانسونو، ورځپاڼو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۹۲۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۷۲۳مثبت دي. ۱۶۹منفي نظرونه او ۳۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۷۸ ٪، منفي ۱۸ ٪ او سالم وړاندیزونه ۴ ٪ دي.

۲. په هېواد کې لسګونو لویو بهرنیو کمپنیو په بېلا بېلو سکټورونو کې د شاوخوا ۱۰مېلیارد ډالرو په ارزښت د پانګونې له پاره لیوالتیا ښودلو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۸۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۵۵ مثبت، ۱۶منفي او ۱۲ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۵ ٪، منفي نظرونه ۹ ٪ او سالم وړاندیزونه۶ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په خصوصي رسنیو کې د دولتي رسنیو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په خصوصي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۵ ، په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۷۸ ده. په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه هم لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ٦ او په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۴ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۸۷۸ مثبت نظرونه، ۱۸۵ منفي نظرونه او ۴۳ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۹ ٪ مثبت نظرونه، ۱۷ ٪ منفي نظرونه او ۴٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د دولتي رسنیو په پرتله په خصوصي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنې کچه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دا دی، هغه خبرونه چې عامه ذهنیت راجلبوي او د عامو وګړو پر ژوند مثبته اغیزه کوي، د خصوصي رسنیو له لوري په پراخه کچه تر پوښښ لاندې راځي. نو د دې خبر په اړه چې کوم نظرونه خپاره شوي دي، تر ډېره بریده ځکه مثبت دي چې خلکو ته د هېواد د اقتصادي ودې زیری پکې نغښتی دی. له دې څخه جوتېږي چې خلک د حکومت له لوري پورته شوی هر ګام کره ځاري او په اړه یې خپل نظر وړاندې کوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- بهرني پانګوال اوسمهال په دې خاطر راځي او دلته پانګونه کوي چې یو خپلواک، مرکزي او واکمن حکومت رامنځته شوی، نه د ټولګډونه حکومت ترنامه لاندې سهامي شرکت چې په تېرو شلو کالو کې یې هر څه چور او وتښتېد.
- افغانستان به هغه وخت پرمختګ وکړي چې د اقتصادي بنسټونو په مرسته معادن، صنعت او کرنه مدیریت شي، بیا به هره پانګونه ډېره ګټوره وي. پرته له دې به هېوادوال په کړاونو کې خپل ژوند ته دوام ورکوي.

**په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسئلې د پام وړ دي:**

✍ **لومړی:** خلکو د یاد خبر په اړه په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې اوسمهال په دې خاطر بهرني پانګوال راځي او دلته پانګونه کوي چې یو خپلواک، مرکزي او واکمن حکومت رامنځته شوی، نه د ټولګډونه حکومت ترنامه لاندې سهامي شرکت چې په تېرو شلو کالو کې یې هر څه چور او وتښتېد. په رښتیا هم چې د کابل تېرې ادارې د سهامي شرکت بڼه خپله کړې وه، د قدرت جزیرې وې او هر څوک په خپل سر و، فساد اوج ته رسېدلی و او د هېواد ټوله شتمني او عواید د یو څو محدودو کسانو په منځ کې ویشل کېدل. پانګوالو څکه پانګونې ته زړه نه ښه کاوه چې دلته مافیایي بانډونه په قدرت کې وو، په ښارونو کې انسان تښتونې او لوټ مار ورځنۍ چاره وه. نه پانګوال خوندي وو او نه یې پانګه خوندي پاتې کېده له همدې امله بهرني پانګوال خو څه چې کورني پانګوال هم له دې شرایطو څخه پوزې ته رسېدلي وو او ډېری کورنیو پانګوال خپلې پانګې له هېواده وایستلې، په نورو هېوادونو کې یې پانګونه وکړه او همالته یې خپل کارو بارونه پیل کړل. د اسلامي امارت په راتګ سره یو پیاوړی مرکزي او خپلواک حکومت رامنځته شوی دی. فساد صفر، امنیت ټینګ، خپلسری پای ته ورسېدې، د قدرت جزیرې ړنګې او مافیایي بانډونه له منځه ولاړل. له همدې امله اسلامي امارت د نورو هغو برخو ترڅنګ چې کولای شي د افغانستان اقتصاد په پښو ودروي، د بهرنۍ پانګونې له پاره زمینه برابره کړه او بهرنیو پانګوالو ته یې د دوی د پانګې او ځاني خوندیتوب ډاډ ورکړی دی. همدا لامل دی چې اوسمهال زیاترو بهرنیو پانګوالو لیوالتیا ښودلې ده چې په افغانستان کې په بېلا بېلو برخو کې پانګونه وکړي.

✍ **دویم:** افغانستان به هغه وخت پرمختګ وکړي چې د اقتصادي بنسټونو په مرسته معادن، صنعت او کرنه مدیریت شي، بیا به هره پانګونه ډېره ګټوره وي. پرته له دې به هېوادوال په کړاونو کې خپل ژوند ته دوام ورکوي. د اسلامي امارت له واکمنېدو سره سم، د هېواد اقتصادي ودې ته جدي توجه کړې ده. د اقتصادي بنسټونو څخه د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د دې بنسټونو په سر کې ځای لري او اقتصادي چارې له همدې معاونیت څخه سمبالېږي. د اقتصادي چارو مدیریت لکه څنګه چې په کار ده هماغسې شوی دی او لا هم روان دی. خو په ټوله کې اسلامي امارت د دې ترڅنګ د بهرنۍ پانګې راجلبولو له پاره هم لاس په کار شوی دی او بهرني پانګوال هڅوي، څو په هېواد کې پانګونې ته زړه ښه کړي. دا چې اوسمهال بهرنیو کمپنیو په افغانستان کې پانګونې ته زړه ښه کړی دی، دا هم د اسلامي امارت د هلو ځلو او سم مدیریت پایله ده.

✍ **دریم:** د اسلامي امارت مشرتابه تل په خپلو خبرو کې ټینګار کړی چې دوی هڅه کوي هغه کارونه ترسره کړي چې هم د هېواد په ګټه وي او هم یې خیر هېوادوالو ته ورسېږي. د پانګونې راجلبولو یوه موخه همدا ده چې له یوه لوري اقتصاد غښتلی شي او له بل لوري خلکو ته د کار زمینه برابره شي. دوی په خپلو خبرو کې تل ویلي چې باید په خپلو هڅو سره خپل هېواد د پرمختګ په لور بوځي او افغانستان پر ځان بسیا کړي.

## پایله

د یو هېواد اقتصاد پر پانګونې ولاړ وي، ځکه د پانګونې له امله تولید رامنځته کېږي او تولید بیا هغه څه دی چې د وګړو ډېری فعالیتونه د اقتصادي تحرک په موخه سره را یو ځای کوي. دا ټول هغه څه دي چې له پانګونې سرچینه اخلي، ځکه خو باید د اقتصادي نظام د خوځښت په موخه پانګونه تشویق، حمایه او وهڅول شي. ټول وروسته پاتې یا د پرمختګ په حال کې هېوادونه ځکه د فقر تر کرښې لاندې وي چې هلته پانګونه نشته او یا هم په داسې هېوادونو کې د پانګونې کچه ډېره ټیټه ده. نن سبا ډېری مخ پر ودې هېوادونو د بهرنیو پانګوالو پرمخ خپلې دروازې پرانیستې دي. هغوی دا کار د پانګې د جوړولو او هېواد کې د پانګونې د کچې د ډېروالي په موخه کوي. زمونږ ګران هېواد افغانستان هم د مخ پر ودې هیوادونو په کتار کې راځي چې تازه د اقتصادي ودې او پرمختګ بهیر ته داخل شوی دی. د مخ پر ودې هېوادونو د ځانګړونو پر اساس مونږ هم د پانګې له کمبود سره مخ یوو، ځکه خو باید د نورو مخ پر ودې او یا پرمختللو هېوادونو له تجربو ګټه واخلو او د خپلې اقتصادي ودې، پرمختګ او هوساینې له پاره هغه ټولې لارې چارې په کار واچوو چې زمونږ له اقتصادي پرمختګ سره مرسته کوي. اسلامي امارت هم د یوه مسوول حکومت په توګه دا مسوولیت لري چې بهرني پانګوال وهڅوي، څو په هېواد کې پانګونه وکړي. د دوی له پاره د پانګونې خوندي چاپیریال رامنځته کړي. اسلامي امارت په دې برخه کې کار کړی او د کورنیو پانګوالو ترڅنګ یې بهرنیو پانګوالو ته هم د دې ډاډ ورکړی دی چې د دوی له پاره به خوندي چاپیریال برابر کړي. په دې اړه د اسلامي امارت مشرتابه او په ځانګړي ډول د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند چې د اقتصادي برخې مسوولیت یې پر غاړه دی، تل یې ویلي دي چې افغانستان تر بل هر وخت اوس په یوه مصؤن او مامون هېواد بدل شوی او د پانګونې له پاره پکې زمینه برابره ده. نوموړي له بهرنیو پانګوالو غوښتي چې افغانستان ته راشي او پانګونه وکړي. که چیرې په هېواد کې د پانګونې لړۍ پیل شي چې پیل شوې هم ده، نو افغانستان به د اقتصاد له پلوه ډېر ژر په خپلو پښو ودرېږي او له سیالانو سره به سیال شي.

# د ملي تدارکاتو کمېسیون په غونډه کې د ۲ میلیاردو او ۴۸۰ میلیونو افغانیو په ارزښت پروژې منظورې شوې



## سریزه:

افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې جګړو او ناخوالو سخت ځپلی دی. په جګړو کې یې ټولې زیربناوې له منځه تللې دي. کرنیز سکټور، د عامه خدمتونو او صنعت سکټور په ګډون لویې لارې، ستر پلونه، د اوبو کانالونه، د اوبو او برېښنا بندونه یې ویجاړ او یا هم سخت زیانمن شوي دي. د دې برخو بېرته رغول د حکومتونو مسوولیت دی، خو په افغانستان کې پخوانیو حکومتونو، دې برخو ته یې پاملرنه نه ده کړې. همدا لامل و چې د افغانستان زیاتره زیربناوې هماغسې ورانې ویجاړې پاتې شوې. د اسلامي امارت په بیا ځلي واکمنېدو سره د اقتصادي چارو د ودې ترڅنګ زیربنا او زیربنایي پروژو عملي کېدو ته اولویت ورکړ شوی دی او په دې برخه کې تر دې مهاله پوره هلې ځلې شوې او لا هم روانې دي. د زیربنایي او سترو پروژو د پیل او په دې برخه کې د روڼتیا او چټکتیا د رامنځته کېدو په موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون رامنځته شو. د ملي تدارکاتو کمېسیون په نوبتي غونډه کې چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ۱۴۰۱ لمریز کال د کب میاشتې په ۱۳مه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه، له اجنډا سره سم پر ۳۱ تدارکاتي موضوعګانو بحث وشو. د ملي تدارکاتو کمېسیون په دې نوبتي غونډه کې د ۲ میلیاردو او ۴۸۰ میلیونو افغانیو په ارزښت پروژې منظورې شوې. په دې پروژو کې چې د هېواد په بېلا بېلو ولایتونو کې پلې کېږي، د اوبو بندونه، تحویلخانې، احاطوي دېوالونه او د زرغونو ساحو رامنځته کول شامل دي.

## د ملي تدارکاتو کمېسیون په غونډه کې د ۲ میلیاردو او ۴۸۰ میلیونو افغانیو په ارزښت پروژو د منظورۍ موخه:

موخه یې د هېواد بیارغونه او آبادي ده. دغه راز د پروژو پلي کېدل به په هېواد کې یو زیات شمېر خلکو ته د کار زمینه برابره او د هغوی اقتصادي ستونزې به هوارې کړي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د ملي تدارکاتو کمېسیون په غونډه کې د ۲ میلیاردو او ۴۸۰ میلیونو افغانیو په ارزښت پروژو د منظورۍ» خبر یې خپور کړی دی:

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:




**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د ملي تدارکاتو کمېسیون په غونډه کې د ۲ میلیاردو او ۴۸۰ میلیونو افغانیو په ارزښت پروژو د منظورۍ راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ورځپاڼې




### ویبپاڼې




### اژانسونه




### ویاندویان



### ټویټرپاڼې




### په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ویبپاڼې




### ورځپاڼې



## اژانسونه




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



## د ملي تدارکاتو کمېسیون په غونډه کې د ۲ میلیاردو او ۴۸۰ مېلیونو افغانیو په ارزښت پروژو د منظورۍ خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسئلې ارزونه او څېړول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان زیاته ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نا رسمي راپورونه خپروي.

### د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د ملي تدارکاتو کمېسیون په غونډه کې د ۲ میلیاردو او ۴۸۰ میلیونو افغانیو په ارزښت پروژو د منظورۍ خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، ویبپاڼو، خبري اژانسونو، ورځپاڼو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۳۸۷ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۱۵۶ مثبت دي. ۱۶۲ منفي نظرونه او ۶۹ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۳ ٪، منفي ۱۲ ٪ او سالم وړاندیزونه ۵ ٪ دي.

۲. د ملي تدارکاتو کمېسیون په غونډه کې د ۲ میلیاردو او ۴۸۰ میلیونو افغانیو په ارزښت پروژو د منظورۍ خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۵۴۰ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۵۷ مثبت، ۹۹منفي او ۸۴ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۶۶ ٪، منفي نظرونه ۱۸ ٪ او سالم وړاندیزونه۱۶ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۳ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ٦٦ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او سالمو وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۸ او د سالمو وړاندیزونو سلنه ۱٦، خو په دولتي رسنیو کې بیا دا سلنې په ترتیب سره ۱۲ او ۵ ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۵۱۳ مثبت نظرونه، ۲٦۱ منفي نظرونه او ۱۵۳ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۹ ٪ مثبت نظرونه، ۱۴ ٪ منفي نظرونه او ۷٪ سالم وړاندیزونه دي.

**دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنې کچه لوړه ده، لامل یې څه دی؟**

یو لامل یې دا دی، هغه خبرونه چې په دولت او د هېواد په بیارغونه پورې تړاو ولري تر ډېره بریده د دولتي رسنیو له لوري خپرېږي. خو په خصوصي رسنیو کې هم د مثبتو نظرونو کچه ډېره ټیټه نه ده چې له پامه دې وغورځول شي. هر خبر چې په زیاته اندازه خپور شي، نو د هغه خبر په اړه نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي چې خلک د حکومت له لوري پورته شوی هر گام کره څاري او په اړه یې خپل نظر وړاندې کوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- د گران هېواد په هر ولایت کې چې کار کېږي موږ یې هرکلی کوو خو د پروژو په عملي کېدو کې باید توازن په پام کې ونیول شي. د بیارغونې په چارو کې ټولو ولایتونو ته یو ډول حق ورکړل شي.
- اسلامي امارت دې د پروژو د تمویل له پاره د کانونو له عوایدو گټه پورته کړي. له دې سره به هم د کانونو استخراج وشي او هم به یې په عوایدو سترې او زیربنایي پروژې پلې شي.
- نن سبا چې څه ته اړتیا ده، هغه ولایتونو ته غځېدلې لارې او سړکونه دي. که دا سړکونه جوړ شي، د افغانستان په دننه کې به د خوراکي موادو پر نرخونو به د پام وړ اغېز وکړي.
- د فراه ولایت د بخش آباد بند ته دې توجه وشي. دلته د اوبو سطحه ټیټه شوې او له امله یې خلک له ستونزو سره لاس او گریوان دي. د فراه ولایت خلک په کرنه بوخت دي او له دې لارې د ژوند چارې پرمخ بیایي. د دې بند په جوړېدو به د کرنې له پاره اوبه پیدا شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسئلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی:** د خلکو له نظرونو داسې ښکاري، چې دوی په افغانستان کې د پروژو د پلي کولو هرکلی کوي. خو ځینې یې بیا په خپلو نظرونو کې وايي، د ګران هیواد په هر ولایت کې چې کار کېږي موږ یې هرکلی کوو، خو د پروژو په عملي کېدو کې باید توازن په پام کې ونیول شي. د بیارغونې په چارو کې ټولو ولایتونو ته یو ډول حق ورکړل شي. لومړی دا چې په دې پروژو کې یوازې یو ولایت ته حق نه دی ورکړل شوی، دا پروژې د هېواد په بېلا بېلو ولایتونو لکه ننګرهار، هرات، لغمان، کندهار، فراه او داسې نورو ولایتونو کې پلې کېږي، له دې څخه جوتېږي چې اسلامي امارت د بیارغونې په برخه کې پر توازن تمرکز کوي. اسلامي امارت د یوه مسوول حکومت په توګه تل هڅه کړې ده چې له کوم توپیر پرته په ټول هېواد کې هغه پروژې چې لومړیتوب لري او د خلکو ستونزې ورسره حل کېږي، پلي کول غواړي. په وخت او د امکاناتو په برابرېدو سره به ان شاءالله د هېواد په هر ګوټ کې د بیارغونې او زیربنایي پروژې پلې شي.

✍ **دویم:** ځینو خلکو بیا وړاندیز کړی دی چې ولایتونو ته غځېدلي سړکونه دې جوړ شي، په دې کار سره به له یوه لوري د خلکو د تګ او راتګ په برخه کې شته ستونزې هوارې شي او له بل لوري به د دې سړکونو پر جوړولو سوداګري وغوړېږي او په هېواد کې به د خوراکي توکو پر نرخونو مثبته اغیزه وکړي. دا سمه ده چې د لویو لارو او ولایتونو ته د غځېدلو سړکونو له جوړېدو سره به سوداګري وده وکړي او کوم محصولات چې په ولایتونو کې تولیدېږي هغه به اسانۍ او ټیټه بیه تر ښارونو او له دې ځایه بهر ته لیږدول کېږي. د دې چارې په ترسره کېدو به له یوه لوري سوداګري وده وکړي او له بل لوري به د اوس په پرتله په عوایدو کې زیاتوالی راشي او ورسره به اقتصاد هم پراختیا ومومي. په اقتصادي پراختیا کې بیا د هېواد پرمختګ نغښتی دی.

✍ **درېیم:** ځینو خلکو په خپلو نظرونو کې د خپلو ولایتونو زیربنایي پروژو ته اشاره کړې ده. لکه د فراه د بخش اباد بند، د پکتیا د مچلغو بند او دغه راز د سړکونو جوړولو پروژې. په دې پروژو کې چې په خبر کې ترې یادونه شوې ده، یوه هم د فراه ولایت د بخش آباد بند د انحرافي تونلونو د جوړولو پروژه ده چې د بودیجه ورته ځانګړې شوې او چارې به یې پیل شي. د افغانستان په کچه د نورو زیربنایي پروژو د پلي کېدو له پاره به بودیجې او امکاناتو په برابرېدو سره ګامونه پورته شي. همدا اوس د یو شمېر ولایتونو په لویو لارو کار روان دی لکه د کابل-کندهار سړک او سالنګونه. د دې ترڅنګ د ښارونو په شمول په ولایتونو کې هم لسګونه کوچنۍ او متوسطې پروژې د پلي کېدو په حال کې دي. د اسلامي امارت په راتګ سره د هېواد په کچه د بیارغونې چارې ګړندۍ پر مخ روانې دي. موږ او تاسو هره ورځ د بیارغونې او زیربنایي پروژو د چارو د پیل او د ځینو یې د کار د پای ته رسېدو او ګټې اخیستنې ته د سپارلو خبرونه اورو.

د اسلامي امارت مشرتابه تل په خپلو خبرو کې ټینگار کړی چې دوی هڅه کوي هغه کارونه ترسره کړي چې پر مټ یې هېواد د پرمختگ په لور روان شي. دوی ویلي چې د افغانستان بیارغونه ورته لومړیتوب لري او د دې چارې په ترسره کېدو سره به له یوه لوري د افغانستان اقتصاد په پښو درېږي، سوداگري به پراختیا ومومي او له بل لوري به د پروژو په پلي کېدو سره په دې پروژو کې زرگونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي.

## پایله

افغانستان جگړو او ناخوالو سخت ځپلی دی. په جگړو کې یې ټولې زیربناوې له منځه تللې دي. کرنیز سکټور، د عامه خدمتونو او صنعت سکټور په گډون لویې لارې، ستر پلونه، د اوبو کانالونه، د اوبو او برېښنا بندونه یې ویجاړ او یا هم سخت زیانمن شوي دي. د دې برخو بېرته رغول د حکومتونو چاره ده، خو په تیر کې چې کوم حکومتونه په افغانستان کې واک ته رسېدلي دي، دې برخو ته یې پاملرنه نه ده کړې، ځکه زیاتره حکومتي چارواکي یا په سیاسي لوبو بوخت وو او یا یې خپل جیبونه ډکول. همدا لامل و چې د افغانستان زیاتره زیربناوې هماغسې ورانې ویجاړې پاتې شوې. د اسلامي امارت په بیا ځلې واکمنېدو سره د اقتصادي چارو د ودې ترڅنگ زیربنا او د زیربنایي پروژو عملي کېدو ته اولویت ورکړل شوی دی او په دې برخه کې تر دې مهاله پوره هلې ځلې شوې او لا هم روانې دي. اسلامي امارت هڅه دا ده چې سترې او زیربنایي پروژې او د هېواد زیربناوې بېرته ورغوي او یا یې له سره جوړې کړي. تر دې مهاله په دې برخه کې زیات کار شوی دی، خو اسلامي امارت پر دې بسنه ځکه نه کوي، کومې چارې چې د اقتصادي ودې ترڅنگ د هېواد د زیربناوو د جوړولو له پاره ترسره شوې دي، هغه د هېواد د ځلوېښت کلنو ناخوالو له امله رامنځته شویو ویجاړیو ته ځواب نه شي ویلای. اسلامي امارت هڅه کوي چې د هېواد اقتصاد په پښو ودروي، خلکو ته عامه خدمتونه وړاندې، د کرنې، کانونو او صنعت سکټورونو په گډون ټول هغه سکټورونه چې کولای شي د اقتصاد په وده او هېوادوالو ته د کاري فرصتونو په برابرولو کې مثبت رول لري، له نړیوالو معیارونو سره سم ورغوي او پر پښو یې ودروي. که دا چاره ترسره شي چې د ترسره کېدو له پاره یې قوي هوډ موجود دی، نو بیا به موږ د دې شاهدان و اوسو چې افغانستان به یو پرمختللی او پر خپلو پښو ولاړ هېواد وي.

Deputy PM for Economic Affairs
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت



@FDPM_AFG www.dpmea.gov.af @FDPM_AFG

Mar 20, 2023